د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د میدان وردک ولایت د پوهنې ریاست

د کېفیت تضمین آمریت




# د میدان وردک ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ کال د حمل څخه تر حوت

# د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ مالي کال د څلورمې ربعې راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........ 1

د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 2

سریزه ........ 3

د کړنو لنډیز ........ 4

د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 7

لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو ........ 7

۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ........ 7

۲. اسلامي زده کړې ........ 9

۳. د کیفیت تضمین ........ 10

۴. سرچینې او اداره ........ 13

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور ........ 14

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 16

۱. ښوونه او روزنه ........ 16

۲. اسلامي زده کړې ........ 20

۳. د کیفیت تضمین ........ 21

۴. سرچینې او اداره ........ 21

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور ........ 23

۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ........ 23

۱. ښوونه او روزنه ........ 23

۲. اسلامي زده کړې ........ 26

۳. د کیفیت تضمین ........ 26

۴. سرچینې او اداره ........ 27

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور ........ 30

د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 32

تحلیل او پایلې ........ 33

د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 62

مالي رپوټ تحلیل ........ 63

ملپاڼې ........ 64

## د ۱۴۰۳ مالي کال د څلورمې ربعې راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمېره / واتساف | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي سردار ولي (مدقق) | د تدریسي چارو آمر | نلري | 777164186 | |
| مولوي محمد زبیر (ذاهد) | د اسلامي زده کړو آمر | نلري | 778576463 | |
| مولوي عبدالباسط (فهیم) | د منابع او اداري آمر | Abdulbasitfahim0700@gmail.com | 708424566 | |
| حمیدالله (صادق) | د کیفیت د تضمین آمر | Hmidmayr913@gmail.com | 784752485 | |
| سبحان الله (روشن) | د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړی | Subhanullah1367@gmail.com | 775000218 | |
| وحید الله وردګ | د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړی | Waheedmayar52@gmail.com | 787915774 | |

د پوهنې د رییس تائید

| نوم او کورنی نوم | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمېره / واتساف | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي محمد عثمان (حریت) | د پوهنې ریاست رییس | نلري | 706506907 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات

میدان وردک ولایت د هیواد د مرکزي ولایتونو له جملې څخه دی چې د طول البلد په ٦٨ درجو، ٨٣ دقیقو او ٣٨ ثانیو او د عرض البلد په ٣٤ درجو، ٣٩ دقیقو او ٤٥ ثانیو کې او د بحر د سطحې څخه په ٢.٢١٠ متره فاصله کې موقعیت لري.

دا ولایت په ختیځ کې د لوګر او کابل ولایت، په لویدیځ کې د بامیان ولایت، په جنوب او جنوب غرب کې د غزني ولایت، په شمال لویدیځ کې د بامیان او پروان ولایتونو سره ګډ سرحد لري او مساحت یې ١٠.٣٣٤٨ کیلو متره مربع اټکل شوی دی. د افغانستان د معلوماتو او احصائیې د ملي ادارې د ١٣٩٩ کال معلوماتو پربنسټ یې نفوس ٦٤٨٨٦٦ تنه ښودل شوی چې له دې جملې څخه ٣٣١٣٠٤ تنه یې نارینه او ٣١٧٥٦٢ تنه یې هم ښځینه تشکیلوي.

د میدان وردکو ولایت په ١٣٤٣ ه ش کال کې د خپلواک دریمه درجه ولایت په توګه د وخت د دولت له لورې منظور او په خپله اداره کې جلریز، نرخ، چک، مرکز بهسود، حصه اول بهسود، سیدآباد، جغتو، دایمیرداد او د مرکز میدانښار په شمول ٩ نهه اداري واحدونه (ولسوالی) لري.

د میدان وردک ولایت اکثریت سیمې غرنۍ دي هوا یې په ژمي کې زیاته سړه او په دوبي کې ښه مناسبه هوا لري.

د میدان وردک زیاته سیمه د بابا غرونو لړۍ تر سیطرې لاندې دي چې د کابل او هلمند سیندونه له همدې ولایت څخه سرچینه اخلي او دا دواړه سیندونه د هیواد په زراعتي برخه کې مهم او حیاتي رول لري.

کچالو، لوبیا، مڼې، زردالو، اوربشې او غنم یې مهم زراعتي پیداوار دي.

د میدان وردکو ولایت اوسیدونکي له ښوونې او روزنې سره زیاته مینه لري چې په دې ولایت کې ٤٣٣ بابه د عمومي زده کړو مرکزونه چې له دې جملې څخه ١٤٢ بابه لیسې ښوونځي، ١٠٣ بابه منځنې ښوونځي او ١٨٨ بابه لومړني ښوونځي دي چې فعال دي.
په یادو مرکزونو کې ١٢٥٣٢٨ تنه نارینه او ٧٥٠٧٠ تنه ښځینه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي.
همدارنګه په یادو مرکزونو کې ٥٠٤١ تنه نارینه ښوونکي، ٤٣٤ تنه ښځینه ښوونکي، ٢٩٨ تنه نارینه اداري کارکوونکي، ٨٢٥ تنه نارینه خدماتي کارکوونکي او ٩ تنه ښځینه خدماتي کارکوونکي په خدمت بوخت دي.
همدارنګه ٤٦٦ بابه د اسلامي زده کړو مرکزونه یکې فعال دي چې له دې جملې څخه ٤١٥ بابه مدرسې، ٤٨ بابه دارالحفاظونه او ٣ بابه دارالعلومونه دي چې د فعالیت په حال کې دي.
د دې ولایت د مرکز په شمول په ٨ ولسوالیو کې لکه میدانښار، نرخ، جلریز، چک، سید آباد، جغتو، دایمیر داد او مرکز بهسود ولسوالیو کې ټولټال ٧١٥ محلي او د چټکو زده کړو ټولګې فعال دي چې له دې جملې څخه ٥١٥ د اسلوهمکارۍ مو سسې او ٢٠٠ ټولګې د ماپوو همکارۍ موسسې لخوا پر مخ وړل کیږي چې په یادو ټولګیو کې ٧١٥ تنه ښوونکي په دندو بوخت دي.
د ماپوو موسسې احصائیې لپاره ١ نمبر ملپاتې ته دې مراجعه وشي.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

د پوهنې وزارت د ۱۴۰۳ مالي کال عملیاتي پلان د اهدافو د لاس ته راوړلو په موخه د پوهنې د دریې ګونو عرصو کیفیت او تړاو، متوازن لاسرسي، شفاف او ځواب ویونکي مدیریت پر بنسټ د میدان وردک ولایت په سطحه باندې ترتیب شوی؛ چې په مرکز، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو کې د تطبیق په حال کې دی. همدارنګه د پرمختګ راپورونه یې د راپور ورکولو د کړنلارې مطابق په منظم شکل په کمي او کیفي ډول په ربعوار او کلني بڼه ترتیب کیږي او اړونده څانګو ته لیږل کیږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپورونو د ترتیب موخه داده تر څو د پلان د تطبیق څرنګوالی په ډاګه کړي او د فعالیتونو د تطبیق د پرمختګ څخه د اداري مختلفې سطحې د لاس ته راوړنو، ستونزو او مشکلاتو، قوي او ضعیفه نقاطو څخه باخبره و اوسي او له دې څخه په استفادې د خپلو راتلونکو پلانونو په اړه ښه والی راشي. د راپورونو د پرمختګ او د کړنو او لاسته راوړنو په دې لړ کې د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست د ۱۴۰۳ مالي کال څلورمې ربعې (کلنی) تشریحي راپور چې د پوهنې د دریې ګونو عرصو پر بنسټ ترتیب شوی دی د اعتبار وړ دی چې د لاندې ۷ مهمو برخو در لودونکی دی:

اوله برخه: د کړنو لنډیز

دویمه برخه: د پرمختګ او لاسته راوړنو تفصلي برخه

دریمه برخه: دغیر پلاني او عمده لاسته راوړنو برخه

څلورمه برخه: تحلیل او نتیجه ګیري

پنځمه برخه: عمده ستونزې او حل لارې

شپږمه برخه: د بودیجې لګښت

اوومه برخه: ملپاڼې

# لومړی برخه

## د کړنو لنډيز

### ۱: کيفيت او تړاو

#### ښوونې او روزنې پروګرام

- د ظرفيت لوړونې مرکزي ټيم له لوري ۱۰۶ تنه علمي غړي او د ظرفيت لوړونې ولايتي ټيم لخوا په ولسواليو کې ۳۱۹ تنه علمي غړي روزل شوي دي.
- د ښوونې او روزنې برنامې له لوري۶۸۹ تنو ښوونکو او ۵۸ تنو علمي غړو ته د ظرفيت لوړولو په برخه کې سمينار ور کړل شوی دی.
- د عمومي زده کړو آمريت اړوند د ساينس مرکز مديريت له لوري د پوهنې رياست اړوند په ټولو ولسواليو کې له ۱۶۰ ښوونځيو لابراتوارونو او ۱۷ کمپيټرليبونو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- دسرچينو تشخيص او ترلاسه کولو په برخه کې د ۱۰۲۷۰ افغانيو معادل مرسته تر لاسه شوې ده ، او د رضا کارانو په برخه کې د ښځينه ښوونکو لخوا د رضاکار په ډول د سواد زده کړو څلور ټولګي ايجاد شوي چې ۹۶ تنه ښځينه زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي او د دولتي بنسټونو لخوا ۸ بابه ټولګي ايجاد شوي دي چې ۱۶۹ تنه زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي.

#### اسلامي زده کړو پروګرام

- د ۴ بابه دارالعلومونو له اداري او تدريسي چارو څخه بيا کتنه تر سره شوې ده چې په نتيجه کې يې ۲۴ اړتياوې په نښه شوي دي.
- د ميدان وردک ولايت په کچه په جغتو، دايميرداد او چک ولسواليو کې له ۲۵۳ بابه اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو له اداري او تدريسي چارو څخه بيا کتنه تر سره شوې ده چې په نتيجه کې ۲۹۸ اړتياوې په نښه شوي دي.
- د ۴۸۵ تنه ديني عالمانو او حافظانو د ازموينو پايلې په اړونده ډيتابيس کې چې د همدې رياست د اسلامي زده کړو آمريت له لورې ترتيب شوي دي ثبت شوي دي.

#### کيفيت تضمين پروګرام

- د ميدان وردک پوهنې رياست اړوند ښوونځيو د دولسم ټولګي فارغانو ته ۲۴۹۳ بري ليکونه په ګروپي شکل ترتيب، تائيد او مربوطه ښوونځيو ته د ويشلو په موخه استول شوي دي.
- د شهادتنامو مديريت له لورې ټولو ولسواليو ښوونځيو ته ۳۲۹۱ سپين بري ليکونه ويشل شوي دي.
- د شهادتنامو مديريت له لورې د ټولو ولسواليو د دولتي ښوونځيو د پايلو ۲۰۲ جدولونه، د خصوصي ښوونځيو ۲ جدولونه او د سامع فارغانو ۱۳۵ جدولونه تائيد شوي دي.
- د پوهنې وزارت له لوري د همدې ولايت د پوهنې رياست ټولو آمريتونو او اړوند مديريتونو مسؤلينوته يې د راپور ورکولو په برخه کې څلور ورځنی سمينار ورکړل شو چې په ترڅ کې يې ۳۱ تنه کارکوونکي وروزل شول.

#### سرچينې او اداري پروګرام

- د پوهنې رياست مالي مدېريت ۹۶۱۳۶۸ ( نهه لکه يو شپېته زره درى سوه اته شپېته ) افغانی عايد راټول او د دولت خزانې ته جمع شوي دي.
- د پوهنې رياست ټول مالي لګښتونه او حسابونه په منظم شکل د BPET سيستم په واسطه د بانک له لورې اجرا شوي دي.
- د سرچينو او اداري آمريت اړوند د کارکوونکومدېريت د ارزونې څانګې او د اداري اصلاحاتو په مرسته د پوهنې رياست ۴۴ تنو نويو مقرر شويو کارکوونکو ته د ظرفيت لوړونې تر عنوان لاندې درى ورځنى سمينار ورکړل شوی دی.
- د ښوونځيو او ملکيتونو د ساتنې او خونديتوب مديريت له لورې په چک والسوالۍ کې د ۵ بابه مدرسو او د يو باب ښوونځي لپاره د ملکيت سندونه ترتيب شوي دي.

### د پوهنې رياست اړوند فعاليتونو پروګرام

- د پوهنې رياست اړوند د نشراتو مدېريت له لورې د ولايت په کچه ټولو ولسواليو ته ۱۶۸۰ اوونيزې ۳۶۵ د عرفان مجلې او ۳۶۵ د بخوان او بينديش مجلې چې د وزارت له لورې راليږل شوې وې د پوهنې رياست او اړوند ټولو ولسواليوته ويشل شوې دي.
- د نشراتو مديريت له لورې د ولايت په کچه ټولو دارالعلومونو ته ۱۱۴۷۳ ټوکه درسي کتابونه ويشل شوي دي.
- د چک ولسوالۍ اړوند ښوونځيو ته بدني روزنې ښوونکو لارښود لپاره ۱۳۰ درسي کتابونه وېشل شوي دي.

## ۲. انډوليز لاسرسی

### ښوونې او روزنې پروګرام

- په دولتي عمومي ښوونځيو کې ۹۲۳۸ تنه نارينه او ۴۱۸۴ تنه ښځينه نوي زده کوونکو جذب شوي دي.
- د صدا همکارې موسسې له لورې په نرخ، سيد آباد او دايمير داد ولسواليو کې ۵۰ د **ODL** سيمه ايبز نوي ټولګي تأسيس شوي دي.
- د سيد آباد ولسوالۍ کې د اور وژنې ۱۵ ټيمونه ايجاد شوي دي.
- د سواد زده کړو په کورسونو کې ټول ۳۶۳۱ تنه نالوستي چې له دې جملې څخه ۱۴۵۸ نارينه او ۲۱۷۳ تنه ښځينه دي جذب شوي دي.
- د ميدان وردک ولايت په کچه د سواد زده کړې ټولټال ۲۲۶ بابه کورسونه ايجاد شوي دي چې له دې جملې څخه ۷۷ بابه کورسونه د رسمي ښوونکو لخوا په ۹ ولسواليو کې تاسيس شوي او غير رسمي د ماپوو همکارې موسسې لخوا ۱۴۰ بابه کورسونه په نرخ، سيدآباد، چک، حصه اول او جلريز ولسواليو کې ايجاد شوي دي او۸ بابه کورسونه د وزارت داخلې له لورې د ۸ ولسواليو په قومندانيو کې د بېسواده مجاهدينو لپاره ايجاد شوي او ۲ بابه کورسونه د سيد آباد ولسوالۍ کې د ښځينه زده کوونکو لپاره د رضاکار خلکو لخوا څخه ايجاد شوي دي.
- د مقداد بن اسود خصوصي ښوونځی له ابتدائيې ښوونځي څخه متوسطې ښوونځي ته ار تقاء کړې او د افغان سيد جمال الدين او حضرت عاصم خصوصي ښوونځي ته جواز تمديد شوی دی.

### اسلامي زده کړو پروګرام

- د اسلامي زده کړو آمريت اړوند د ۵۰ بابه ديني مدرسو نومونه بدل شوي.
- د ولايت په کچه له ۳۲۱ تنو حافظانو څخه د کامل حفظ آزموينه اخيستل شوې ده.
- دپوهنې رياست اړوند شيږو ولسواليو کې ۳۰۰ تنه طالب العلمان د ليليې څخه برخمن شوي دي.

- په ۹ اداري واحدونو کې ۱۰۲ رسمي مدرسو، دارالحفاظونو او دارالعلومونو ته کتابونه، موکیت او قرطاسیه ویشل شوې ده.

### سرچینې او اداري پروګرام

- د ولایت په سطحه په ټولو ولسوالیو کې ۳۵ ښوونځي د اسلامي امارت د بودیجې له طریقه ترمیم شوي دي.
- د ولایت په سطحه د پوهنې ریاست اړوند چک ولسوالۍ کې د ۲ بابه ښوونځیو لپاره د اراضي آمریت په همکارۍ چې ۹ جریبه د الجهاد لنګر او ۹ جریبه ځمکه د انبوخاک ښوونځي لپاره او ۲۵ جریبه احسن العوم دیني مدرسې ته مشخصه شوه
- ولایت په کچه د پوهنې ریاست اړوند د دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو ۹ دوسیې تر تعقیب لاندې دي

## ۳. آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

### ښوونې او روزنې پروګرام

- په لرې پرتو او محرومو سیمو د کړنلارې مطابق د پوهنې ریاست له لورې د ښوونکو د ګمارنې لپاره یوه کمیټه وټاکل شوه چې د ولایت په سطحه له ۲۲۵ تنو ښوونکو څخه د آزاد رقابت له لورې په شفاف ډول آزموینه واخیستل شوه چې د رشتې مطابق ۸۰ تنه ښوونکي بریالي وپېژندل شول او د پوهنې وزارت ته یې د منظورۍ په موخه جدولونه واستول شول.
- د ولایت په کچه د ۹۹۶ بابه ښوونځیو څخه په نرخ، جلریز، مرکز میدان ښار ولسوالیو کې څارنه تر سره شوېده او همدا رنګه۶۴۵د سیمه ایزو زده کړو ټولګیو او۱۰۵ د سواد زده کړې ټولګیو او د ۱۷۹چټکو زده کړو ټولګیو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د ولایت په کچه ۳۷۹۳ تنه ښوونکو ۷۳۷ تنو سرښوونکو، ۵٦۵ تنو مدیرانو او ۱۱۵ تنو د سواد زده کړو ټولګیو ښوونکو د تدریسي بهیر او کړنو څخه مشاهده تر سره شوېده
- د ولایت په کچه د ټولو ولسوالیو اړوند په ۴۵۰ بابه ښوونځیو کې زده کوونکو ته ۲۳۴۷٦۵ د البندازول تابلېتونه وېشل شوي دي.

### اسلامي زده کړو پروګرام

- د جلریز ولسوالۍ پوهنې آمریت له لورې په دې والسوالۍ کې د ۳۲ بابه مدرسو کې د سیرت سیالۍ د نارینه او ښځینه زده کوونکو ترمنځ په اُمهات المؤمنین اناثیه او زیولات نعمانیه په مدرسه کې ترسره شوه.

### سرچینې او اداري پروګرام

- بشري سرچینو مدیریت له لورې د مرکز په کچه ۲۰ او د ولایت په کچه ۲۸۵ تش بستونه په ډاګه شوي دي.
- د ولایت په کچه ۷۳۵۸ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شوي دی.
- د ولایت په کچه کار کوونکو ته ۱۲۱ د هویت کارتونه وېشل شوي دي.
- د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسوالیو کې ۱۸۲ تنه کار کوونکي، ۱۴۳ تنه ښوونکي او ۸۳۵ تنه استادان ګمارل شوي دي.
- د ولایت په کچه ۷۷ تنه په شرایطو برابر کار کوونکي تقاعد شوي دي.
- د ولایت په کچه په مرکز میدانښار ، مرکزبهسود او چک ولسوالیو کې ٦۲۲ پای میزونه او چوکۍ ترمیم شوي دي.
- د ولایت په سطحه د پوهنې د کرایې نیول شویو ودانیو په موخه تر دې دمه ۴۵ ودانۍ په کرایه نیول شوې دي.

### ریاست اړوند فعالیتونو پروګرام

- د تکنالوژۍ مدیریت له لوري ۱۸۹۰ سندونه او ۴۸۰ د بنسټونو سندونه او یو دانه د پوهنې ریاست د آمرینو د مدد معاش فرمان تر لاسه شوي ا و د پوهنې وزارت او اړوند معینیتونو ته د منظورۍ په موخه ۴۲۰ پیشنهادونه لېږل شوي دي.
- په ولایتي کچه ۱ او ۹ اداري واحدونو ته عملیاتي پلانونه جوړ شوي دي.
- ۵۸ کانسپټ نوټونه ترتیب او اړوند اداري ته لېږل شوي دي.
- د پوهنې ریاست ټولو کارکوونکو ته چې جمله ۲۸۰ تنه کیږي د مختصر نصاب تدریس ورته کیږي.

## ستونزې او ننګونې

- د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست، اړوند پوهنې آمریتونه او عمومي ښوونځیو لپاره د اداري کارکوونکو او تدریسي کارکوونکو تشکیل د کمښت سره مخ دی.
- د میدان وردک پوهنې ریاست لپاره مناسبه بودیجه په نظر کې نه ده نیول شوې تر څو د ښوونځیو شته ستونزې پرې حل کړي.
- د میدان وردک پوهنې ریاست اړوند ښوونځیو، دارالعلومونو، دارالحفاظونو او مدرسو لپاره د تعمیرونو، وسایلو او تجهیزاتو کمښت سره مخ دی.

## حل لارې

- د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست، اړوند پوهنې آمریتونه او عمومي ښوونځیو لپاره د اداري کارکوونکو او تدریسي کارکوونکو مناسب تشکیل ورکړې تر څو شته ستونزې حل او پوهنې په برخه کې ښه والي راشي.
- د میدان وردک پوهنې ریاست لپاره مناسبه بودیجه په نظر کې ونیول شي تر څو د ښوونځیو شته ستونزې پرې حل شي.
- د میدان وردک پوهنې ریاست اړوند ښوونځیو، دارالعلومونو، دارالحفاظونو او مدرسو لپاره د تعمیرونو، وسایلو او تجهیزاتو لپاره پراختیایي په نظر کې ونیول شي تر څو یادې ودانۍ، وسایل او تجهیزات خریداري کړي.

# دویمه برخه

## د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

### لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**تولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوی به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

#### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد زده کړې له ۲۵۹ کورسونو څخه په ۹ ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا غړو له لوري د تدریسي بهیر د کیفیت د ښه والي په موخه څارنه تر سره شوې ده چې په پایله کې یې ښوونیزو موادو پراختیا موندلې ده او د عمومي زده کړو او اسلامي زده کړو څخه څارنه د بودیجې د کمښت له امله تر اوسه پورې نه ده شوې تر څو ښوونیزو مواد پراختیا ومومي.

**۱,۲ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د علمي غړو مربیانو ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ظرفیت لوړونې مرکزي ټیم لوري ۱۰۶تنو علمي غړو ته د ظرفیت لوړونې تر عنوان لاندې ۱۸ ورځنی سمینار ورکړل شوی دی او د ظرفیت لوړونې ولایتي ټیم له لوري په مرکز میدان ښار، سید آباد او جلریز ولسوالیو کې ۳۱۹تنو علمي غړو ته د ظرفیت لوړونې تر عنوان لاندې ۲۸ ورځنی سمینار ورکړل شوی دی چې په دې سره به د علمي غړو او مربیانو ظرفیت لوړ شي.

**۱,۳ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په میدان وردک ولایت کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

په د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د یاد فعالیت په موخه ۶۸۹ تنو ښوونکو او ۵۸ تنو علمي غړو ته د مسلکي پراختیا غړو له لوري په مرکز میدان ښار، سیدآباد او نرخ ولسوالیو کې د مؤثرو زده کړو تر عنوان لاندې ۱۲ورځنی سمینار ورکړل شوی دی چې په دې سره به د ښوونکو او علمي غړو د ظرفیت لوړولو په برخه کې مثبت تغیر راشي. او همدارنګه د سرښوونکو، مدیرانو / آمرینو او اداري شوراګانو غړو ته د بودیجې د کمښت له امله ظرفیت لوړولو سیمنار په لاره نه دی اچول شوی.

**۱,۴ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کیدو په موخه لازم چمتوالی؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت تر دې دمه ندی تر سره شوی ځکه چې د وزارت مقام له لورې تر اوسه پورې په دې برخه کې کومه کړنلاره نه ده راغلې چې د هغې په اساس یاد فعالیت اجراء شي.

**۱,۵ فعالیت: د لابراتوارونو د اړتیاوو معلومولولپاره سروې او په میدان وردک ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې نوموړی فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د پوهنې وزارت له لورې ندی تر سره شوی خو د پوهنې ریاست د ساینس مرکز علمي او مسلکي غړو لخوا د پوهنې ریاست اړوند په ټولو ولسوالیو کې سروې تر سره شوې ده چې پدې سره د ساینس لابراتوارونو د موادو او وسایلو اړتیاوې او ضرورتونه په نښه شوي دي تر څو په راتلونکې کې لابراتوارونه په مکمله توګه سمبال شي.

**۱,۶ فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې تر اوسه نوموړی فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د پوهنې وزارت له لورې ندی تر سره شوی خو د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ساینس مرکز مدیریت له لورې د پوهنې ریاست اړوند په ټولو ولسوالیو کې له ۱۶۰ ښوونځیو لابراتوارونو او ۱۷ کمپیټرلبونو څخه څارنه ترسره کړې چې په یاده برخه کې ورته لازمې لارښوونې تر سره شوي دي تر څو په عملي ډول زده کړې وکړي او د لابراتوارونو توکو او موادو څخه سالمه ګټه پورته کړي.

**۱,۷ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې او امکاناتو نشتون له امله ندی تر سره شوی.

**۱,۸ فعالیت: د پوښتې لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له وجې ندی تر سره شوی ځکه چې تر اوسه پورې هیڅ کومه کړنلاره نده راغلې او نه له پوهنې وزارت څخه کومه لارښوونه شوې.

**۱,۹ فعالیت: د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د عمومي زده کړو برنامې له لورې د بودیجې د کمښت له امله نه دی تر سره شوی.

**۱,۱۰ فعالیت: د مسلکي غړو له خوا په میدان وردک ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش WASH Dewormin په برخه کې د ځاروندی د تروپ گروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ریاست تخنیکي غړو لخوا د واش په برخه کې د بودیجې دکمښت له امله کوم سیمنار نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۱ فعالیت: د ځارنې ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د میدان وردک ولایت د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروگرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت د سواد زده کړې ریاست له لورې یاد فعالیت په میدان وردک ولایت کې نه دی تر سره شوی.

**۱,۱۲ فعالیت: دمیدان وردک ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروگرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، کړنلارې ونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد حیاتي عمومي مدیریت له لورې تر سره کېږي چې د ولایت په کچه په میدان ښار کې تر سره شوی دی چې د سواد زده کړې پروګرام د ښه تطبیق په موخه د په اتو ولسوالیو کې د ښوونکو د مسلکي پراختیا ۸ تنو علمي غړو ته یوه ورځ او د امنیه قومندانی اړوند د سواد زده کړې او د تعلیم او تربیې ۹ تنو مسؤلینو ته په یاده برخه کې څلور ورځنی سمینار ورکړل شو او همدارنګه د مرکز میدان د شهري آمریت اړوند د سواد زده کړو نویو ګمارل شویو ۷ تنو ښوونکو ته د زده کوونکو د ارزونې په مورد دوه ورځنی سمینار دائر شو چې په دې سره به د ښوونکو علمي ظرفیت لوړ شي.

**۱,۱۳ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کولو په برخه کې د معارف دوسته خلکو له لورې په سید آباد ولسوالی کې د ۱۰۲۷۰ افغانیو معادل مرسته تر لاسه شوې ده، او د رضا کارانو په برخه کې د یو تن ښځینه لخوا د رضاکار په ډول د سواد زده کړو څلور ټولګي ایجاد شوي چې ۹۶ تنه ښځینه زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي او د دولتي بنسټونو لخوا ۸ بابه ټولګي ایجاد شوي دي چې ۱۶۹ تنه زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي.

**۱,۱۴ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق ځارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا، همدارنګه د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردکو ولایت کې تر اوسه د پوهنې وزارت د خصوصي ښوونځیو ریاست له لورې ندی تر سره شوی.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې کومه مدرسه دارالعلوم ته ارتقاء نه ده کړې ځکه چې تر اوسه پورې یې د دارالعلوم معیار ندی پوره کړی.

**۲،۲ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ولایت په سطحه مرکز میدانښار او چک ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو آمر، علمي غړو او د پلان عمومي مدېریت یو تن کارکوونکي په شمول د ۴ بابه دارالعلومونو له اداري او تدریسي چارو څخه بیا کتنه تر سره شوې ده چې په نتیجه کې یې ۲۴ اړتیاوې په نښه شوي دي.

**۲،۳ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردکو ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سمینارونه د پوهنې وزارت له لورې ندي دائر شوي.

**۲،۴ فعالیت: دمیدان وردک ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د ولایت په سطحه په جغتو، دایمیرداد او چک ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو آمر او علمي غړو له لورې له ۲۵۳ بابه اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو له اداري او تدریسي چارو څخه بیا کتنه تر سره شوې ده چې په نتیجه کې یې ۲۹۸ اړتیاوې په نښه شوي دي.

**۲،۵ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په شته ډیټابس کې ۴۸۵ علماء کرام ثبت شوي دي چې له یادو علماء کرامو څخه دکمېټې له لورې د پوهنې په ریاست کې د علماو شورا غړو، اصلاحات اداري کارپوه، او تعلیمات اسلامي آمر په ګډون آزموینه اخیستل شوې ده او همدارنګه د یادو علماء کرامو لپاره پوښتنې هم د نوموړې کمېټې له لورې ترتیب شوې وې چې په دې سره به بریالي کسان په شته تشو بستونو کې مسلکي ښوونکي او مدرسین ځای پر ځای شي.

**۲،٦ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د وړپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د مدرسو او ادارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو په موخه کوم ورکشاپ نه دی ورکړل شوی ځکه چې تر اوسه پورې اسلامي زده کړو ته کوم نوي درسي کتابونه نه دي راغلي او نه کومه بودیجه شته چې یادفعالیت تر سره کړي.

**۲،۷ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لورې په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې د ولایت په کچه یې ۵۴۵ تنه د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې د ګډون په موخه ثبت کړي دي چې په دې سره د عالیه او عالمیه ازموینو لپاره، د دیني زده کړو په رسمي پېژندنه، د علمي ظرفیتونو په تثبیت او د فارغینو د راتلونکو علمي او مسلکي فرصتونو لپاره زمینه برابروي.

## ۳. د کیفیت تضمین

**۳،۱ فعالیت: د میدان وردک ولایت او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت د احصائيې اړوند د احصائيې او EMIS رياست د احصائيوي متخصصينو او د پوهنې رياست د احصائيې او EMIS مدیریت کارکوونکو له لوري د همدې ولايت د مرکز په شمول په ۹ ولسواليو کې د کيفيت لرونکو احصاييوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفيت لوړونې ۹ ورکشاپونه ورکړل شوي دي چې په دې سره يادو کارکوونکوته د کيفيت لرونکو احصاييوي ارقامو راټولولو په برخه کې پوهه ترلاسه کړه.

**۳,۲ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصایيِوي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردگو ولایت کې د پوهنې وزارت اړوند د احصائيې او EMIS رياست د احصائيوي متخصصينو او د پوهنې رياست د احصائيې او EMIS مدیریت کارکوونکو له لوري د مرکز په شمول په ۹ ولسواليو کې د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصایيِوي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق تر سره کړی دی.

**۳,۳ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت لخوا په میدان وردگو ولایت کې تر اوسه ندی تر سره شوی.

**۳,۴ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې د پوهنې وزارت له لوري ندی تر سره شوی.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نويو تاسيس شويو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځيو د مختصاتو راټولول په موخه د تضمين کيفيت آمريت اړوند د احصائيې او EMIS عمومي مدیریت کارکوونکو له لوري د مرکز په شمول په ۹ ولسواليو کې د پلان شويو روزنيزو مرکزونو له جملې څخه د ۱۱۲ مرکزونو څخه مختصات راټول شوي دي چې په دې سره به د احصائيې ارقام تکميل شي.

**۳,۶ فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د تضمین کیفیت آمریت اړوند د شهادتنامو عمومي مديريت مسلکي غړيو له لورې په گروپي ډول د ټولو ولسواليو ښوونځيو ته ۲۴۹۳ بري ليکونه ويشل شوي دي پدې سره به د زده کوونکو له غوښتنې سره سم تعليمي اسنادو ته لاسرسی پيدا شي او د دولت په عوايدو کې به زيات والی راشي.

**۳,۷ فعالیت: د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په پوهنې رياست کې د تضمين کيفيت آمريت اړوند د شهادتنامو عمومي مديريت مسلکي غړيو له لورې تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه د ټولو ولسواليو ښوونځيو ته ۳۲۹۱ سپين بري ليکونه ويشل شوي دي پدې سره به د زده کوونکو له غوښتنې سره سم تعليمي اسنادو ته لاسرسی پيدا شي ا و د دولت په عوايدو کې به زيات والی راشي.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولگیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د تضمين کيفيت آمريت اړوند د شهادتنامو عمومي مديريت مسلکي غړيو له لورې د ولايت په سطحه د مرکز په شمول د ۹ ولسواليو دولتي ښوونځيو د پايلو ۲۰۲ جدولونه، د خصوصي ښوونځيو ۲ جدولونه او د سامع فارغانو ۱۳۵ جدولونه تائيد شوي دي پدې سره به د زده کوونکو د تعليمي بروسو پايلې تائيد شي

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې د پوهنې وزارت د ۲ کسیز هئیت له لوري تر سره شوی دی چې د پوهنې ریاست ټولو آمریتونو او اړوند مدیریتونو راپور ورکولو مسؤولینو ته یې د راپور ورکولو په برخه کې څلور ورځنی سمینار دائر کړی چې په یاد سمینار کې ۳۱ تنه کارکوونکي روزل شوي دي چې په دې سره د راپور لیکلو، تحلیل او توحید په برخه کې چې کومې ستونزې موجود وې حل شوې دي.

**۳,۱۰ فعالیت: د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې د تضمین کیفیت معینیت اړوند د څارنې او ارزونې ریاست کارپوهانو له لوري تر سره شوی دی چې د پوهنې ریاست او د ولایت په کچه په ټولو ولسوالیو کې یې د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه څارنه تر سره کړې ده چې په دې سره به د ښوونې او روزنې په برخه کې د کیفیت ښوالی را منځ ته شي او شته ستونزې او نیمګړتیاوې به حل شي.

**۳,۱۱ فعالیت: دمیدان وردک ولایت د پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردگو ولایت کې د تضمین کیفیت معینیت اړوند د څارنې او ارزونې ریاست کارپوهانو له لوري د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۸ ولسوالیو کې د همکارو موسسو له پروژو څخه څارنه تر سره شوېده چې په دې سره به د یادو همکارو موسساتو له پوهنې وزارت سره د شویو هوکړه لیکونو له تطبیق څخه ډاډ حاصل شي.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د څارنې او ارزونې په موخه د راپورو ورکولو سیستم په منظم ډول د استفادې وړ دی څکه چې راپورونه د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړیو له لوري د پوهنې ریاست ټولو برنامو او مدیریتونو او همدارنګه د ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه په منظم ډول میاشتني او ربعوار راپورونه راټولوي او له تحلیل او توحید وروسته په ربعوار ډول پوهنې وزارت ته لیږل کیږي او د راپورونو څخه یې استفاده کیږي چې پدې سره پوهنې وزارت ته د همدې ریاست د کاري کړنو په هکله معلومات حاصلیږي.

**۳,۱۳ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې د پوهنې وزارت له لوري ندي ترسره شوی.

**۳,۱۴ فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د میدان وردک ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د تضمین کیفیت آمریت اړوند د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت له لوري تر سره کیږي چې د ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو معلوماتو راټولو په موخه د چمتو شوي فارمټ په اساس تر دې دمه دحمل میاشتې څخه شروع او د حوت میاشتې تر پایه پورې د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړیو له لوري له تحلیل او توحید وروسته په ربعوار ډول پوهنې وزارت ته چمتو او لیږل شوی دی.

**۳,۱۵ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د میدان وردک ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق د پوهنې وزارت له لورې ندی تر سره شوی خو د پوهنې ریاست د کیفیت د تضمین آمریت اړوند د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت مسلکي غړیو

له لورې په میدانښار، چک، سید آباد، نرخ او جلریز ولسوالیو کې له ۴۵ بابه ښوونځیو څخه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق څخه څارنه تر سره شوې ده چې پدې سره به د اړونده ښوونځیو د قوانینو، لوایحو، پالیسیو څخه ډاډ حاصل شي.

**۳,۱۶ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت د کارپوهانو له لوري په همدې ریاست کې تر سره شوی دی چې دپوهنې ریاست د تضمین کیفیت آمریت اړوند مدیریتونو څخه یې (۲۲) تنو کار کوونکو ته د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخه کې دری ورځنی سمینار دائر او په خپل وخت پای ته ورسېده چې په دې سره ګډونوالو ته د قوانینو، تګلارو او دقیق تطبیق، تحلیل او ارزونې په اړه پوهاوی ورکړل شو او دهمدې سمینار له لارې ګډونوالو وکولای شول چې د پالیسیو جوړونې پلي کېدو او څارنې اړوند عملي پوهه ترلاسه کړي دا به د اداري په داخل کې د اصولي او اغېزمنو پرېکړو او کړنو زمینه برابره کړي.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د داخلي عوایدو په راټولولو کې زیات والی؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست مالي مدیریت له لورې د ولایت په سطحه د مرکز په شمول د ۹ ولسوالیو د ښوونځیو له زده کوونکو څخه ۹۶۱۳۶۸ افغانۍ عاید راټول شوی دی چې پدې سره به د دولت په عوایدو کې زیاتوالی راشي.

**۴,۲ فعالیت: د بودیجې د ترتیب او لګښتونو د تعقیب سیستم BPET پراختیا او نوي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د میدان وردکو ولایت په پوهنې ریاست کې د مالي مدیریت له لورې ٪ ۱۰۰ سلنه تطبیق شوی دی چې په دې سره د پوهنې وزارت د مصارفاتو او معاشاتو د تخصیص په مصرف کې شفافیت راځي او د پوهنې وزارت د ټولو مصارفاتو په ښه توګه تطبیق د مالیې وزارت د آفمیس له سیستم سره، همدارنګه د بودیجې په ترتیب او سنجش کې آسانتیاوې منځ ته راوړي.

**۴,۳ فعالیت: د مالیې وزارت په موافقه په میدان وردک ولایت کې د افمیس سیستم ته پراختیا ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردک ولایت پوهنې ریاست کې د پوهنې وزارت لخوا د افمیس سیستم نه دی فعال شوي نو بناً یاد فعالیت نه دی تر سره شوی.

**۴,۴ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري ریاست له لورې څوک نه دي راغلي چې تر څو د میدان وردک پوهنې ریاست مالي مدیریت اړوند کارکونکي وروزي نو بناً یاد فعالیت نه دی اجراء شوی.

**۴,۵ فعالیت: د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په میدان وردکو ولایت کې ندی ترسره شوی.

**۴,۶ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د اداري کارکوونکو زده کړه او ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د سرچینو او اداري آمریت اړوند د کارکوونکومدیریت د ارزیابۍ څانګې او د اداري اصلاحاتو په مرسته ترسره شوی چې د پوهنې ریاست ۴۴ تنو نویو مقرر شویو کارکوونکو ته یې د ظرفیت لوړونې تر عنوان لاندې دری ورځنی سمینار ورکړل شو چې په دې سره به په اداري سیستم کې د کارکوونکو علمي پوهه زیاته شي او ۱۰۷ د نیاز سنجي فورمونه د پوهنې وزارت ته لېږل شوي دي چې تر اوسه پورې زمونږ په ولایت کې د فورمونو د لېږلو له لارې کارکوونکي ندي ارزول شوي.

**۴,۷ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنايي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په پوهنې ریاست کې د سرچینو او اداري آمریت اړوند د سوانح مدیریت د کارکوونکو له لوري د سوانحو د فترونو تدقیق، تصحیح او تطبیق کارونه ۸۰ سلنه تر سره شوي دي چې پدې سره د کارکوونکو سوانحو دفترونه منظم کېږي او پاتې چارې به یې په راتلونکو ربعو کې ترسره شي.

**۴,۸ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب مدېریت له لوري په ولسوالیو کې ترسره شوی دی چې د ولایت په کچه په چک ولسوالی کې د ۵ بابه مدرسو او یو ۱ باب ښوونځي لپاره د ملکیت سندونه ترتیب شوي دي چې پدې سره به یادو مدرسو او ښوونځیو ته تعمیرونه جوړ شي او زده کوونکو ته به د زده کړو لپاره ښه او مناسبه زمینه برابره شي.

**۴,۹ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب مدېریت له لوري په ولسوالیو کې ترسره شوی دی چې د ولایت په کچه د مرکز میدان ښار، دایمیرداد، سید آباد، نرخ او جلریز ولسوالیو کې د ښوونځیو ۷ د احاطو دېوالونه، د پاکو اوبو څاګاني، سولر سیستم، استنادي دېوالونه او تشنابونه سجل شوي دي چې قراردادونه یې د یونیسف لخوا څخه د مختلفو شرکتونو سره شوي وو چې فعلاً یې کارونه په ساحو کې سل فیصده تکمیل او ګتې اخیستنې ته وسپارل شول او د ولایت په کچه په ۹ اداري واحدونو کې د ۳۶ اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو ترمیم سجل تر شره شوی چې پدې سره به زده کوونو ته د زده کړو لپاره مناسب چاپېریال رامنځ ته شي.

**۴,۱۰ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په پوهنې ریاست کې د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب مدېریت له لوري ترسره شوی دی چې د املاکو په د فترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیت ۷ سندونه او ۳۶ سجل ثبت شوی دی چې په دې سره به د تخریب مخه ونیول شي.

**۴,۱۱ فعالیت: د هغو سیینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت نه دي انتقال شوي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردکو ولایت کې داسې کومه ودانۍ نشته چې ځمکه یې نوي تثبیت شوي کله چې یاد ولایت کې ښوونځي او یا د مدرسې لپاره ودانۍ جوړېږي نو لومړی د هغې ځمکې تثبیت کیږي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور

**۵,۱ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاد تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د پوهنې وزارت اړوند د دعوت ارشاد ریاست له لوري تر سره شوی دی چې د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه یې ډاد تر لاسه کړ چې له امله یې په یاده برخه کې لازمې کړنې تر سره شوې وې.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د نشراتو مدیریت له لوري د ولایت په سطحه ټولو ولسوالیو ته ۱۶۸۰ اوونیزې، ۳۶۵ د عرفان مجلې او ۳۶۵ د بخوان او بیندېش مجلې چې د وزارت له لورې رالیږل شوې وې د پوهنې ریاست او اړوند ټولو ولسوالیوته ویشل شوې دي چې پدې سره به د یاد وزارت له کړنو او لاسته راوړنو څخه مسؤلینو او عامو هېواد والو ته د پوهنې په ډګر کې معلومات تر لاسه شوي دي او بروشورونه د وزارت له لورې هم چاپ کیږي او بیا رالیږل کیږي چې تر دې مهاله نه دي رالیږل شوي.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د پوهنې وزارت له لوري ندی ترسره شوی.

**۵,۴ فعالیت: د میدان وردک ولایت د ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د میدان وردکو ولایت پوهنې ریاست اړوند ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو ویش ندی تر سره شوی او نه تخنیکي کتنه تر سره شوې ده ځکه چې له پوهنې وزارت څخه تر دې دمه هېڅ کتابونه ندي راغلي.

**۵,۵ فعالیت: تر پوښښ لاندې میدان وردک ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو مرکز ته دارالعلومونو او دارالحفاظونو د۱۱۴۷۳ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش.**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند د نشراتو مدیریت له لوري د ولایت په کچه ټولو دارالعلومونو ۱۱۴۷۳ ټوکه کتابونه وېشل شوي دي چې په دې سره د یادو دارالعلومونو د زده کوونکو د کتابونو د نشتون ستونزه حل شي.

**۵,۶ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۳۲۵۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مرکز څخه د سواد زده کړو درسي کتابونه پوهنې ریاست ته نه دي رارسیدلي تر څو وویشل شي نو بناء یاد فعالیت نه دی اجراء شوی.

**۵,۷ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو ته د لارښود د ۱۳۹۵ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د بدني روزنې مدیریت له لوري د چک ولسوالۍ اړوند ښوونځیو ته د بدني روزنې د ښوونکو لارښود ۱۳۰ درسي کتابونه وېشل شوي دي؛ چې په دې سره به د بدني روزنې اړوند ښوونکو له لوري زده کوونکو ته غوره او وړ معلومات وړاندې شي.

**۵,۸ فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د یاد فعالیت په اړه پوهنې وزارت ته وړاندیز شوی دی اما تر اوسه د نشراتو مدیریت په دې هکله ځواب ندی ترلاسه کړی.

**۵,۹ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د میدان وردک ولایتي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د میدان وردکو ولایتي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونه د پوهنې وزارت لخوا په لاره ندي اچول شوي.

**۵,۱۰ فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول.**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردګو ولایت کې د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه د پوهنې وزارت اړوند د دعوت ارشاد ریاست له لوري هئیت یو ځل راغلی وو چې په یاده برخه کې هدایت شوې کړنې په منظم ډول تر سره شوې وې.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**ټولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱٫۱ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت د ښوونکو د مسلکي ودې د رئیس او ورسره راغلي مل پلاوي له لوري د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست د ښوونکو د مسلکي پراختیا اړوند پروګرامونو له تطبیق او څرنګوالي څخه څارنه تر سره شوه. چې پدې سره به د ورکړل شویو پلانونو او پروګرامونو له تطبیق او څرنګوالي څخه ډاډ حاصل شي.

**۱٫۲ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د عمومي زده کړو آمریت اړوند مرکز ساینس مدیریت له لوري د سیدآباد، دایمیرداد، چک، نرخ ، جلریز، جغتو، مرکز میدان، حصه اول بهسود او مرکز بهسود ولسوالیو اړوند ښوونځیو کې سروې تر سره شوې ده چې پدې سره د شته کمپیوټرلبو او لابراتوارونو د تجهیز کولو په برخه کې د اړتیا وړ توکي په نښه شوي دي چې د یاد مدیریت له لوري د مرکزي هستې ، نرخ، جغتو، جلریز ، دایمیرداد ولسوالیو کې یو یو او په سیداباد ولسوالۍ کې د ۲ لابراتواري موادو اړتیاوې پوره شي دي.

**۱٫۳ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د میدان وردک ولایت په کچه د ۱۶۱۹۷ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند ټولو ولسوالیو کې د ښوونځیو آمرینو / مدېرانو له لوري تر سره کېږي چې له جذب وروسته یې د پوهنې آمرین لیستونه د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت ته رالېږل کېږي په همدې اساس د میدان وردک ولایت په کچه ټولټال ۱۳۴۲۲ تنه زده کوونکي په ښوونځیو کې نوي شامل شوي دي چې له دې جملې څخه یې ۹۲۳۸ تنه نارینه او ۴۱۸۴ تنه ښځینه زده کوونکي دي چې پدې سره به زده کوونکي له زده کړو څخه برخمن او په ټولنه کې به د بېسوادۍ کچه را ټیټه شي د نور تفصیل لپاره د ۲ نمبر ملپاڼې ته دې مراجعه وشي.







**۱٫۴ فعالیت: دمیدان وردک ولایت په کچه د ۴ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې ندی تر سره شوی ځکه چې د ولسوالیو د پوهنې آمریت یتونو څخه یې د تاسیس غوښتنه نده شوې .

**۱،۵ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د لومړنیو ښوونځي د منځنې دورې ښوونځیو ته او د منځنیو ښوونځیو د لېسې ښوونځیو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د یاد فعالیت په اړه د پوهنې ریاست اړوند پوهنې آمریتونو له لورې د ښوونځیو لوړولو په موخه کوم وړاندیز ندی شوی ځکه چې په ښوونځیو کې د تشکیل کمښت له امله د ښوونځیو لوړولو لپاره معیار ندی پوره شوی.

**۱،۶ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردکو ولایت کې د جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال په اړه د پوهنې ریاست اړوند پوهنې آمریتونو له لورې کومه غوښتنه نده شوې.

**۱،۷ فعالیت: دمیدان وردک ولایتي ریاست او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د پوهنې وزارت له لوري ندي تر سره شوی.

**۱،۸ فعالیت: د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د امکاناتو او بودیجې نشتون له امله ندی تر سره شوی.

**۱،۹ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې له بهر څخه ۸ تنه زده کوونکي راستانه شوي چې په چک او سید اباد ولسوالۍ کې استوګن دي خو تر اوسه پورې د زده کړو په موخه یې پوهنې ریاست ته مراجعه نده کړې او هغه مجاهدین چې په تېر ۱۴۰۲ کال کې یې د مجاهدینو تثبیت صنف آزموینې لپاره نوم لیکنه کړې وه خو د پوهنې وزارت له لورې یې آزموینه معطل او په ۱۴۰۳ مالي کال حمل میاشت کې یې ورته د آزموینې اخیستلو اجازه ورکړه چې له ۲۹۰ تنو مجاهدینو څخه آزموینه واخیستل شوه خو د همدې ربعې په جریان کې تر اوسه د یادو مجاهدینو له لورې نوم لیکنه نده تر سره شوې.

**۱،۱۰ فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ په میدان وردک ولایت کې د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د صدا همکارې موسسې له لورې په نرخ، سید آباد او دایمیر داد ولسوالیو کې ۵۰ د ODL سیمه ایيز نوي ټولګي تأسیس شوي دي چې پدې سره به له زده کړو څخه بې برخې زده کوونکو ته د زده کړو زمینه برابره شي. خو د چټکو زده کړو ټولګیو په جوړولو کې کومې همکارې موسسې ملاتړ نه دی کړی.

**۱،۱۱ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د عمومي زده کړو آمریت اړوند د څارندوی مدیریت له لوري ترسره کېږي چې د پوهنې وزارت له لورې د رسمي لیک په اساس چې د ترافیک او اور وژنې ټیمونه باید له څارندوی ټیمونو څخه ایجاد شي چې د سید آباد ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو کې د اور وژنې ۱۵ ټیمونه ایجاد شوي دي چې پدې سره به زده کوونکي د اور وژنې په برخه کې لازمې زده

کړې او مهارتونه تر لاسه کړي او په نورو ولسواليو کې هم ورته توصيه شوې او د ترافيک په برخه کې هم د څارندوی معلم او زده کوونکو ته تبليغات شوي دي.

**۱,۱۲ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ملا امامانو او قومي مشرانو له طريقه د ولايت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسواليو کې د جوماتونو او تکيه خانو له لارې د سواد اهميت د عامه پوهاوی په اړه ۳۲ پروګرامونه تر سره شوی دی؛ تر څو بې سواده هېواد وال وهڅوي چې علم او پوهې ته مخه کړي.

**۱,۱۳ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتي د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت ندی تر سره شوی ځکه چې د زده کوونکو لخوا مراجعه نده شوې.

**۱,۱۴ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت د پوهنې رياست اړوند په ټولو ولسواليو کې د ښوونکو له لوري د ليک لوست زده کړو په کورسونو کې تر سره کېږي چې ټولټال ۳۶۳۱ تنه چې له دې جملې څخه ۱۴۵۸ تنه نارينه او ۲۱۷۳ تنه ښځينه نالوستي کسان جذب شوي دي چې په دې سره به د نالوستو کسانو کچه را ټيټه شي. د نورو تفصيلاتو لپاره د ۳ نمبر مل پاڼو ته مراجعه وکړئ.

**۱,۱۵ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
په د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت په ولسواليو کې د امامانو او کوچيانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبولو لپاره انکشافی بوديجې ته ضرورت دی چې د سواد زده کړې رياست لخوا د ۱۴۰۳ مالي کال لپاره ميدان وردک ولايت ته ۸ بابه کوسونه د ملا امامانو او ۴ بابه کورسونه د کوچيانو لپاره په نظر کې نيول شوي دي خو د دې فعاليت لپاره پراختيايي بوديجه نشته اود پيل په موخه يې د پوهنې وزارت اړوند سواد زده کړو رياست له لورې رسمي مکتوب هم ندی تر لاسه شوی.

**۱,۱۶ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت د پوهنې رياست اړوند ولسواليو کې د پوهنې آمريتونو له لوري په انتخاب شويو لرې پرتو سيمو کې تر سره کېږي چې د ميدان وردک ولايت په کچه د سواد زده کړې ټولټال ۲۲۶ بابه کورسونه ايجاد شوي دي چې له دې جملې څخه ۷۷ بابه کورسونه د رسمي ښوونکو لخوا په ۹ ولسواليو کې تاسيس شوي او غير رسمي د ماپوو همکارې موسسې لخوا ۱۴۰ بابه کورسونه په نرخ، سيدآباد، چک، حصه اول او جلريز ولسواليو کې ايجاد شوي دي او ۸ بابه کورسونه د وزارت داخلې له لوري د ۸ ولسواليو په قومندانيو کې د بېسواده مجاهدينو لپاره ايجاد شوي او ۲ بابه کورسونه د سيد آباد ولسوالۍ کې د ښځينه زده کوونکو لپاره د رضاکار خلکو لخوا څخه ايجاد شوي دي. چې په دې سره به د نالوستو کسانو کچه را ټيټه شي.
د نورو معلوماتو لپاره دې ۴ نمبر ملپاڼې ته دې مراجعه وشي.

**۱,۱۷ فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو او کورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت د پوهنې رياست د عمومي زده کړو اوښوونکو د مسلکي پراختيا آمريت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدېريت له لوري په ولسواليو کې ترسره شوی دی چې (۳) بابه خصوصي ښوونځي په مرکز ميدانښار او (۱) باب خصوصي ښوونځي په نرخ ولسوالۍ کې نوي تاسيس شوي دي او په مرکز ميدانښار کې (۴) بابه نوي کورسونه تاسيس شوي او په مرکز ميدان ښار کې د افغان سيد جمال الدين او د حضرت عاصم خصوصي ښوونځيو ته جوازونه تمديد شوی دي او همدا رنګه د مقداد بن اسود خصوصي

ښوونځی له ابتدائیې ښوونځي څخه متوسطې ښوونځي ته ار تقاء کړې ده چې په دې سره به د زده کړو د لا پراختیا، خصوصي سکتور د پیاوړتیا، زده کوونکو ته د زده کړو د آسانتیاوو برابرولو، او ښوونیزو بنسټونو د قانوني کړنلارې د تعقیب زمینه برابره شي.

**۱,۱۸ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو دري کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛**

**د ۱۴۰۳** مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د میدان وردگو ولایت د پوهنې ریاست د شهادتنامو عمومي مدیریت له لوري ترسره شوی، چې له مخې یې د ولایت په کچه د ۴۰ تنو نارینه زده‌کوونکو دری کلنې نومرې تدقیق شوې دي. د ښځینه فارغو زده کوونکو تدقیق شوې نومرې نه لرو، ځکه چې د امیرالمؤمنین حفظه‌الله د فرمان له مخې د ثانوي زده کړو بهیر تر بل امره پورې معطل شوی دی.

**۱,۱۹ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دخصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي ۳ تنه زده کوونکي د پوهنې ریاست اړوند افغان ترک خصوصي ښوونځي ته د مرکز میدان پوهنې آمریت له لورې په تخفیف ډول ور پېژندل شوي دي او د کورسونو په مورد تر اوسه د کوم زده کوونکي له لورې مراجعه نده شوې.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بڼې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې د ۵۰ بابه دیني مدرسو نومونه بدل شوي چې د هغې له جملې څخه د ۲ بابه مدرسو نومونه په جغتو، د ۳ بابه مدرسو نومونه په دایمیر داد، د ۳ بابه مدرسو نومونه په مرکز میدان ښار، د ۸ بابه مدرسو نومونه په سیدآباد د ۱۸ بابه مدرسو نومونه په چک او د ۱٦ بابه مدرسو نومونه په نرخ ولسوالی کې بدل شوي دي د هغو مدرسو نومونه چې په یوه ولسوالی کې دوه مدرسې په یو نوم وې د نومونو ستونزې یې حل شوې او د نرخ ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند یوه مدرسه د سعد بن ابي وقاص په نوم جوړه شوې ده.

د نورو معلوماتو لپاره دې ۴ نمبر ملپاتړې ته دې مراجعه شوي.

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بڼې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت د علمي غړو له لوري په نرخ، جلریز او مرکز میدان ښار کې د ۱۲۰ بابه اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء او تمدید څخه کتنه او کنټرول تر سره شوی دی او زمونږ په ولایت کې هغه خصوصي مرکزونه شتون نلري چې جوازونه یې اخیستي وي ټول دیني مدارس د دولت په چوکاټ کې رسمي شوي دي.

**۲,۳ فعالیت: د ۴۲۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د اسلامي زده کړو معینیت د کړنلارې مطابق د ولایت په کچه له ۳۲۱ تنو حافظانو څخه د کامل حفظ آزموینه واخیستل شوه او پایلې یې ببرته د اسلامي زده کړو معینیت ته استول شوې چې په دې سره به د مدرسو په تشو بستونو کې نوموړي حافظان تقرر حاصل کړي او د علماء کرامو د تثبیت سویه تر دې دمه د دوولسم ټولګیو لپاره ۱۴ تنه او د څوارلسم ټولګیو لپاره ۲۸ تنه ثبت شوي دي.

**۲,۴ فعالیت: د میدان وردک ولایت د مدرسینو د ظرفیت لوړولو په موخه د ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له وجې ندی تر سره شوی او د یاد فعالیتونو لپاره د اسلامي زده کړو معینیت له لورې ورته بودیجه نده تخصیص شوې.

**۲,۵ فعالیت: د میتودیکي اړتیاؤ د معلوملو په موخه د اسلامي زده کړو په بنسټونو کې د مدرسینو او استادانو ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو په آمریت کې د علمي غړو له لورې تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه په جلریز، نرخ او مرکز میدان کې ۵۴ تنه مدرسین ارزول شوي دي. چې په دې سره به نوموړي مدرسین خپلو کارونو ته متوجه شي.

**۲,٦ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردګو ولایت کې یاد فعالیت ندی تر سره شوی ځکه چې د اسلامي زده کړو معینیت څخه د درالعلومونو اړتیاوې په نښه کیږي.

**۲,۷ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست او اسلامي زده کړو آمریت تر مشورې او رسمي وړاندیز تر منظورۍ وروسته د ولایت په کچه په ٦ ولسوالیو کې د پوهنې آمریتونو له لوري تر سره شوی دی چې ۵۰ تنه په دایمیرداد ولسوالی ۵۰ تنه په نرخ ولسوالی ۵۰

تنه په سید آباد ولسوالۍ ۵۰ تنه په جلریز ولسوالۍ کې ۵۰ تنه په جغتو ولسوالۍ کې او ۵۰ تنه په چک ولسوالۍ کې د لیلیې څخه برخمن شوي دي.

**۲,۸ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د یاد فعالیت په موخه تر اوسه پورې طالب العلمانو مراجعه نده کړې.

**۲,۹ فعالیت: د ۲۲۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی ځکه چې د نویو مدرسو او دارالحفاظونو جوړولو لپاره څوک نه دي عارض شوي تر څو مدرسې او دارالحفاظونه ورته جوړ شي.

**۲,۱۰ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د ۱٦ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نویو کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړولو لپاره خلکو عارض شوي دي خو د تشکیل د کمښت له امله یاد فعالیت ندی تر سره شوی.

**۲,۱۱ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو له لورې په پوهنې ریاست کې تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسوالیو کې ۱۰۲ رسمي مدرسو، دارالحفاظونو او دارالعلومونو ته کتابونه، موکیت او قرطاسیه ویشل شوې چې په دې سره په ټولو ولسوالیو کې د قرطاسیې ستونزه حل شوه.

## ۳. د کیفیت تضمین

میدان وردک ولایت په ۱۴۰۳ مالي کال عملیاتي پلان کې د انډولیز لاسرسي برخې اړوند د کېفیت د تضمین پروګرام کې پلان شوي فعالیتونه نه لري.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د سرچینو او اداري آمریت اړوند د تشکیل مدیریت له لورې په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې د ولایت په کچه د مرکز په شمول ۹ ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو، ښوونیز مرکزونو او اداري بنسټونو ته تشکیل او کودونه لیږل شوي دي چې په دې سره به د تشکیلاتي نظم برابر شي او د ګډوډۍ مخه به ونیول شي.

**۴,۲ فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ښوونځیو تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته د ولسوالیو د پوهنې آمریتونه نظر په ضرورت غوښتنه کوي دا چې ضرورت ندی لیدل شوی او د یادو آمریتونو څخه غوښتنه نده شوې نو بناً بدون له ضرورت څخه لوړول اصولي نده.

**۴,۳ فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په میدان وردکو ولایت کې ندی تر سره شوی.

**۴,۴ فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د میدان وردک ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سرچینو او اداري آمریت اړوند د سرچینو او اداري لوی مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې د سرچینو او اداري د پروسې ساده کول، د استخدام په بخش کې تقرر او تبدیل، ارتقاء ظرفیت ته د اداري او تدریسي کارمندانو معرفي کول، د سوانحو ډیټابس په شکل په لنډل ډول ترتیبول او همدا رنګه د موجوده ترتیب شویو لایحو په مورد مربوطه کارکوونکو ته واضح کول او تعقیبول او د لایحو د ګونګو مادو په اړه د پوهنې وزارت اړوند د سرچینو او اداري د پراختیا لوی ریاست له کارپوهانو څخه معلومات غوښتل تر سره شوي دي چې په دې سره به د کارکوونکو د لوایحو ستونزې حل شي.

**۴,۵ فعالیت: د بریښنایي سیسټم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو. .. د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخینکي ټیم ټاکل او لېږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت اړوند د ښونځیو د ملکیتونو د خوندیتوب ریاست څخه یو تن او د همدې ریاست د ښونځیو د ملکیتونو د خوندیتوب عمومي مدیریت څخه درېو تنو مسلکي غړیو په شمول یاد فعالیت په جغتو، سید آباد، مرکزمیدان، نرخ او جلریز ولسوالیو کې تطبیق شوی دی. چې په دې سره به د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو جنسونو، سامانونو او وسایطو د ثبت او دڅارنې څرنکوالی څخه ډاډ حاصل شي.

**۴,۶ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پراختیایي بودیجې نشتون له امله ندی تر سره شوی.

**۴,۷ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پراختیایي بودیجې نشتون له امله ندی تر سره شوی.

**۴,۸ فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند د ښونځیو د ملکیتونو د خوندیتوب مدیریت له لوري د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسوالیو کې ۳۵ ښوونځي د اسلامي امارت د بودیجې له طریقه ترمیم شوي دي. چې په دې سره به زده کوونکو ته د زده کړې لپاره ښه او مناسبه زمینه برابره شي.

**۴,۹ فعالیت: د میدان وردک ولایت څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د ښونځیو د ملکیتونو د خوندیتوب مدیریت له لوري ترسره شوی دی چې د ساختماني موادو نرخونه په دوه کټګوریو کې را ټولیږي چې د مرکز لپاره یو نرخ او د ولسوالیو لپاره بل نرخ یعنې د مرکز او ولسوالیو د نرخونو تر مینځ یوه اندازه تفاوت لري له ترتیب وروسته د پوهنې وزارت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب ریاست سره شریکیږي.

**۴,۱۰ فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند د ښونځیو د ملکیتونو د خوندیتوب مدیریت له لوري د ولایت په سطحه د پوهنې ریاست اړوند چک ولسوالی کې د اراضي آمریت په همکارۍ د دوه بابه ښوونځیو لپاره چې۹ جریبه ځمکه د الجهاد لنګر، ۹ جریبه ځمکه

د انبوخاک ښوونځي لپاره او ۲۵ جریبه احسن العلوم دیني مدرسې ته مشخصه شوه چې په دې سره به په یاده ځمکه کې د مدرسو او ښوونځیو لپاره تعمیرونه جوړ شي.

**۴,۱۱ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې په ریاست کې د اداري او منابع آمریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د خوندیتوب مدېریت له لورې تر سره شوی چې د ولایت په کچه د پوهنې ریاست اړوند د دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو ۹ دوسیې تر تعقیب لاندې دي خو تر اوسه پورې ندي خلاصې شوي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور

**۵,۱ فعالیت: د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست استازي ته د ولایت له پوهنې څخه ټول د متقاعدینو مکتوبونه ، منفکی مکتوبونه، د دندو د اشغال مکتوبونه، د ښوونکو او مدېرانو د ارزونې مکتوبونه همدارنګه د تقرر او تبدل وړاندیزونه او داسې نور ټول مکتوبونه او وړاندیزونه د معلوماتو او ټېکنالوژۍ له مدېریت څخه پوهنې وزارت ته لېږل شوي او هلته د پوهنې ریاست استازي لخوا د نورو کړنو په موخه په ښه او منظم ډول طی مراحل شوي.

# ۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**ټولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

## ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د میدان وردک ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د میدان وردک ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو د کړنلارې مطابق د پوهنې ریاست له لورې د ښوونکو د ګمارنې لپاره یوه کمیټه وټاکل شوه چې په همدې ریاست کې یې د ولایت په کچه له ۲۲۵ تنو ښوونکو څخه د آزاد رقابت له لورې په شفاف ډول آزموینه واخیستل شوه چې د یادې کمېټې له لورې یې پارچې وکتل شوې او پایلې یې خپرې شوې چې د رشتې مطابق ۸۰ تنه ښوونکي بریالي وپېژندل شول او د پوهنې وزارت ته یې د منظورۍ په موخه جدولونه واستول شول.

**۱,۲ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په میدان وردک ولایت کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردکو ولایت کې دپوهنې وزارت له لورې ندی تر سره شوی.

**۱,۳ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی ځکه چې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لورې د علمي رتبو تصویب او وړاندیز کول معطل دی.

**۱,۴ فعالیت: د میدان وردک ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په میدان وردک ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه په مرکز میدان ښار، سید آباد، جلریز، مرکز بهسود، حصه اول بهسود، نرخ ، چک ولسوالیو کې څارنې تر سره شوي دي چې پر دې لړ کې د ښوونې او روزنې په برخه کې عامه پوهاوی تر سره شوی او همدا رنګه د ښوونې او روزنې د ارزښت په اړه غونډې تر سره شوي دي او ښوونځیو ته د جدید الشمولانو د جلب او جذب په اړه کمپاینونه تر سره شوي دي.

**۱,۵ فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د ولایت په کچه د ۹۹۶ بابه ښوونځیو څخه په نرخ، جلریز، مرکز میدان ښار ولسوالیو کې څارنه تر سره شوېده او همدا رنګه۶۴۵د سیمه ایزو زده کړو ټولګیو ، ۱۰۵ د سواد زده کړې ټولګیو او د ۱۷۹چټکو زده کړو ټولګیو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده. چې په دې سره د ښوونکو ستونزې حل کېږي او په تدریسي بهیر کې بهبود راځي.

**۱,۶ فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۱۷۳۱ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړیو له لورې د ولایت په سطحه ۳۷۹۳ تنه ښوونکو، ۷۳۷ تنو سرښوونکو، ۵۶۵ تنو مدیرانو او ۱۱۵ تنو د سواد زده کړو ټولګیو ښوونکو د تدریسي بهیر او کړنو څخه مشاهده تر سره شوېده. چې په دې سره د ښوونکو ستونزې حل کېږي او په تدریسي بهیر کې بهبود راځي.

**۱,۷ فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ښوونکو د مسلکي پراختیا علمي غړیو له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره کېږي چې علمي راپور بې ترتیب او له تحلیل او توحید وروسته د ښوونې او روزنې عمومي ریاست ته وړاندې کړی دی چې په دې سره د ښوونکو مسلکي اړتیاوې او ستونزې په علمي ډول تحلیلېږي، او د اغېزمنو پالیسیو او پرېکړو لپاره اړونده ریاست ته دقیق، توحید شوي معلومات وړاندې کېږي.

**۱,۸ فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست رئیس، د تدریسي چارو مرستیال او د څارنې او ارزونې مسلکي غړو لخوا په مرکز میدان ښار کې د ماپوو، اسلو او صدا همکارو موسسو له هوکړه لیکونو څخه کتنه تر سره شوې ده. چې په دې سره د نوموړو موسساتو له فعالیتونو څخه ډاډ تر لاسه شو.

**۱,۹ فعالیت: د ولایتي ریاست له لارې په میدان وردک ولایت کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ندی ترسره شوی.

**۱,۱۰ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندې تر سره شوی ځکه چې پدې هکله تر اوسه غوښتنه نده شوې.

**۱،۱۱ فعالیت: د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ مالي کال په په پای کې دولتي ښوونځیو ته لېږدول کېږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند د ښوونې او روزنې آمریت له لوري د ولایت په کچه د سیمه ایيزو ټولګیو د ۱۷۹۸ تنو نارینه او ۱۰۱۲۸ تنو ښځینه زده کوونکو او همدارنګه د چټکو زده کړو د ۴۶ تنو ښځینه زده کوونکو احصائیه راټوله شوې ده. خو د چټکو زده کړو نارینه داسې زده کوونکي نه لرو چې دولتي ښوونځیو ته ولېږل شي. چې په دې سره به زده کوونکي له غیر رسمي زده کړو څخه رسمي تعلیمي بهیر ته داخل شي، چې دا کار د پوهنې د کیفیت، شفافیت، او ښوونیز عدالت د تأمین لپاره مهم او ګټور دی.

**۱،۱۲ فعالیت: په بیړنی حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې په میدان وردکو ولایت کې تر دې دمه هېڅ داسې بیړني حالات ندي پیښ شوي.

**۱،۱۳ فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان WHO او د خوړو نړیوال پروګرام WFP په مرسته د میدان وردک ولایت په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د البندازول د ټابلیټونو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د عمومي زده کړو آمریت اړوند د صحت مدیریت له لوري د ولایت په کچه د ټولو ولسوالیو اړوند په ۴۵۰ بابه ښوونځیو کې البندازول ټابلیټونه ویشل شوي دي چې له نوموړو تابلېټو څخه ۲۳۴۷۶۵ تنه زده کوونکی برخمن شوي دي چې په دې سره به د زده کوونکو د چینجیو د امراضو مخنیوی وشي.

**۱،۱۴ فعالیت: د کابل ښار پوهنې ریاست په ګډون په ټولو ولایتونو کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د څارندوی ټیمونو له لوري په سیدآباد، مرکز میدانښار او جلریز ولسوالیو کې تر سره شوی دی چې د مخدره موادو د ضررونو پر وړاندې تبلیغات وشول او کوم مکتوب چې د پوهنې له وزارت څخه د مخدره موادو د ضررونو په هکله پوهنې ریاست ته راغلی وو کاپي شو او هر یو مکتب ته مو ویشل شو؛ چې په دې سره به په ټولنه کې د مخدره موادو د استعمال څخه مخنیوی وشي.

**۱،۱۵ فعالیت: د وړتیاوو د معلوملو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د بدني روزنې مدیریت له لوري په سید اباد ولسوالی کې د شلو ټیمونو تر منځ او په دایمیرداد ولسوالی کې د شپږو ټیمونو ترمنخ د والیبال سیالی پیل شوي دي چې په نورو ولسوالیو کې هم جریان لري دا پروسه به په ټولو ولسوالیو کې ادامه مومي تر څو د ولایت په کچه یو ټیم بریالی شي چې یاد ټیم به وروسته د ولایتونو له ټیمونو سره لوبیږي تر څو ملي لوبډلې ته لار پیداکړي. چې په دې سره به د ورزشي سیالیو د ټیمونو سویه لوړه شي.

**۱،۱۶ فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د هرې ولسوالی د ولسوالانو په مشری تر سره کېږي چې د دې کمېټې سکرتریت د ولسوالی د پوهنې آمر او د سواد زده کړې مدېر پر غاړه دی دا کمېټه نور غړي هم لري چې عبارت دي له د امنیه قومندانی آمر، د کرنې مدېر، د ارشاد، حج او اوقافو مدېر، د مستوفیت مدېر، د انکشافي شورا رئیس او همدا رنګه هغه دولتي او غیر دولتي بنسټونه چې د سواد زده کړې په فعالیتونو کې اغېزمن دي چې د سواد زده کړو برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جذب په موخه په مرکزي هسته، چک، سید آباد ،حصه اول بهسود،

دایمیرداد او جلریز ولسوالیو کې د سواد کمیټو غونډې دائرې شوې دي چې د ولایتي جوړو شویو غونډو شمېر ۳ او په یادو ولسوالیو کې ۱۱ غونډې تر سره شوي دي چې په دې سره به خلک و هڅیږي تر څو زده کړو ته مخه وکړي.

**۱,۱۷ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی ځکه چې تر اوسه د خصوصي ښوونځیو مسؤلین دې ته ندي حاضر شوي چې خپل ښوونځي په رسمي ډول تسلیم کړي او یا خپل مدیر رسمي کړي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو دیپلوماتیک او ثبت شوي اتشې سندونو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت د اسلامي زده کړو آمریت له لوري ندی تر سره شوی. ځکه چې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت له لورې یاده ارزونه تر سره کیږي چې تر اوسه پورې نه ده ترسره شوې.

**۲,۲ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند اسلامي زده کړو آمریت له لوري د ولایت په کچه د نرخ او سیدآباد ولسوالیو کې په ۹۲ بابه مدرسو کې د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څخه څارنه او کنټرول ترسره شوی دی چې په دې سره به دوی خپلو کارونو ته متوجه شي.

**۲,۳ فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې تر اوسه یې ټاکلی معیار ندی پوره کړی.

**۲,۴ فعالیت: له ۸۷۸ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخیستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۸۷۸ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند داسلامي زده کړو آمریت له لوري د ولایت په کچه د ۸۷۸ تنو له جملې څخه له ۴۲۴ تنو څخه آزموینه واخیستل شوه او د شهادتنامو وېش یې تر اوسه ندی تر سره شوی ځکه چې غوښتنه یې نده شوې. چې پدې سره به یادو ګډونوالوته په اداراتو کې د خدمت په موخه د جذب او همدارنګه د زده کړو د دوام لاره هواره شي.

**۲,۵ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د جلریز ولسوالۍ د آمریت اړوند په اُمهات المؤمنین اُناثیه مدرسه او د زیولات په نعمانیه مدرسه کې د پوهنې آمریت له لوري د ۳۲ بابه مدرسو کې د سیرت سیالۍ نارینه او ښځینه زده کوونکو ترمنځ تر سره شوې چې په نتیجه کې یې دوه مدرسو لمړي مقامونه تر لاسه کړل چې د همدې ولسوالۍ د پوهنې آمریت له لوري په جایزو ونازول شول؛ چې په دې سره د زده کوونکو تر منځ د سویې ارزونه کیږي.

## ۳. د کیفیت تضمین

میدان وردک ولایت په ۱۴۰۳ مالي کال عملیاتي پلان کې د آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت برخې اړوند د کیفیت د تضمین پروګرام کې پلان شوی فعالیت نه لري.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴،۱ فعالیت: په میدان وردک ولایتو کې د بشري سرچینو د راجسټریشن په سیسټم کې د معلوماتو نوي کول د خالي بستونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د سرچینو او ادارې لوی مدیریت له لورې د ولایت په کچه د مرکز ۲۰ بستونه او د ولایت په کچه ۲۸۵ تش بستونه په ډاګه شوي دي؛ چې پدې سره به په یادو بستونو کې د رشتې مطابق مسلکي او وړ کسان و ګمارل شي.

**۴،۲ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجسټریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په پوهنې ریاست کې د راجستر مدیریت له لوري تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه ۷۳۵۸ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شوي دي چې په دې سره د ښوونکو او کارکوونکو په مالي حساباتو کې شفافیت را ځي.

**۴،۳ فعالیت: د تبدیلۍ او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د سرچینو او ادارې لوی مدیریت له لورې د بستونو تبدیلۍ او د لوړوالي چارو د پر مخ بیولو په موخه استخدام ریاست ته د ۵۷۱ تشو بستونو په اړه معلومات وړاندې شوي دي.

**۴،۴ فعالیت: د ٦۵۰ هویت/پېژند کارتونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د سرچینو او ادارې آمریت اړوند د تشکیل مدیریت له لوري د ولایت په کچه د مرکز په شمول د ۹ ولسوالیو ښوونکو او کارکوونکو ته ۱۲۱د هویت کارتونه وېشل شوي دي چې پدې سره به د ښوونکو او کارکوونکو تشخیص وشي.

**۴،۵ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د د سرچینو او ادارې لوی مدېریت له لوري د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسوالیو کې ۱۸۲ تنه کار کوونکي، ۱۴۳ تنه ښوونکي او ۸۳۵ تنه استادان ګمارل شوي دي چې پدې سره به په اداراتو او ښوونځیو کې د کار کوونکو او ښوونکو د کمښت ستونزه حل او په ښوونځیو کې به د تدریس بهیر پیاوړی شي.

**۴،٦ فعالیت: د میدان وردک ولایت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو د بست او قدم لوړول بیاکتل او د پراوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د سرچینو او ادارې لوی مدېریت له لوري ترسره شوی چې  د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسوالیو کې د ۲۸۵ تنو ښوونکو د ارزونې په نتیجه کې قدمونه لوړ شوي دي چې په دې سره به د ښوونکو ضعف، طرز او سلوک معلوم شي او د نورو ښوونکو ارزونه په راتلونکو ربعو کې تر سره کیږي خو د اداري کارکوونکو ارزونه او ښوونکو د بست ارتقاء د پوهنې وزارت له لورې د نوي کړنلارې تر جوړېدو پورې معطل کړل شوي دي.

**۴،۷ فعالیت: دمیدان وردک ولایت په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د سرچینو او اداري آمریت اړوند د سوانحو مدیریت له لوري د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسوالیو کې ۷۷ تنه د قانون له مخې په شرایطو برابر کار کوونکي تقاعد شوي دي چې پدې سره به په تشو بستونو کې په شرایطو برابر او وړ کسان وګمارل شي.

**۴,۸ فعالیت: د راتلونکي امنیتي پېښو د مخنیوي په موخه، له میدان وردک ولایت څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په پوهنې ریاست کې د مصؤنیت مدېریت له لوري چې د مرکز میدان د پوهنې آمریت اړوند د ناصریانو لېسې څخه د لوی اختر په رخصتیو کې نا معلوم کسان ورغلي چې دوه شیشې یې ماتې کړې او له یاد ښوونځي څخه یې یو لب ټاپ کمپیوټر، یو پرینټر او د زده کوونکو حاضري او ترقي تعلیمونه یې له ځان سره وړي دي او کلنی امنیتي راپور هم د همدې ولایت مقام، د استخباراتو ریاست او د پوهنې وزارت د ساتنې او خوندیتوب آمریت ته استول شوی دی.

**۴,۹ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د ونډې سره سم دڅټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لوري نه دی ترسره شوی خو د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت اړوند د خدماتو مدېریت له لوري تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه د مر کز په شمول ۹ ولسوالیو ته د ضرورت وړ جنسونه انتقال په موخه نقلیه وسایط توظیف کړي دي؛ چې په دې سره د ټولو ولسوالیو د ضرورت وړ جنسونو ستونزه حل شوې ده.

**۴,۱۰ فعالیت: د میدان وردک ولایت ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع چاپي او غیر چاپي قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت اړوند د خدماتو مدېریت له لوري د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي) ۴ بابه قرطاسیې او مینځوونکي مواد د پوهنې وزارت څخه را انتقال او د پوهنې ریاست اړوند د مرکز په شمول ۹ ولسوالیو ته وېشل شوي د ي؛ چې په یاده برخه کې د ټولو ولسوالیو ستونزه حل شوې ده.

**۴,۱۱ فعالیت: د پوهنې اړوند ریاست د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۱۰۰۰ پایې میزونو او څوکیو تولیدول او جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت اړوند د خدماتو مدېریت په همکاری په ولسوالیو کې د شورا غړیو له لوري تر سره شوی دی د ولایت په کچه په مرکز میدانښار، مرکزبهسود او چک ولسوالیو کې ۶۲۲ پای میزونه او چوکی ترمیم شوي دي چې فعلاً هم جریان لري او په نورو ولسوالیو کې د فلز کار او بودیجې نشتون له امله ځنډلي دي؛ چې په دې سره به د زده کوونکو د میزونو او چوکیو ستونزه حل شي او د زده کړو لپاره به ورته مناسبه زمینه برابره شي.

**۴,۱۲ فعالیت: د ولایت پوهنې ریاست د نه بشپړ شویو پراختیایي ساختماني پروژو د قرارداد له تطبیق څخه مدیریت کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د خوندیتوب مدېریت له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه یوه پروژه په سید آباد ولسوالی کې ده چې ۹۰ سلنه کارونه یې تر سره شوي دي او بله پروژه په مرکز بهسود ولسوالی کې ده چې ۶۵ سلنه کارونه یې تر سره شوي دي خو له اجراء څخه پاتې دي؛ چې په دې سره به د بې کیفیته موادو مخنیوی وشي.

**۴,۱۳ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د اړتیا او لارښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه:**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د خوندیتوب مدېریت له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی دی د ولایت په کچه په ۸ ولسوالیو کې لکه مرکز میدان، سید آباد، نرخ، جغتو، دایمیر داد، چک، جلریز او حصه اول بهسود ولسوالیو کې د واش پروژې له ۸ بنستیزو پروژو او د ۱۰ بابه ترمیماتي پروژو څخه څارنه ترسره شوې ده چې په دې سره به د بې کیفیته موادو مخنیوی وشي او د قرار داد مطابق کارونه به مخته ولاړ شي.

**۴,۱۴ فعالیت: د ځمکو د انتقال په موخه د ۸ پروتوکولونو لاسلیک کول او د زراعت له محترم وزارت او ښاروالیو څخه د ۲۰ جریبه ځمکو غوښتل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د خوندیتوب مدیریت له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه د چک ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د الجهاد لنگر او انبوخاک لېسو لپاره ۱۸ جریبه، د جهادي مدرسې لپاره ۳۱ جرېبه او د سیداباد ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د نسوان سیدا آباد ښوونځي لپاره ۹ جرېبه ځمکه غوښتل شوې ده چې د اسنادو طی مراحل یې تر کار لاندې دي؛ چې په راتلونکي وختونو کې به ورته تدریسي خونې او احاطوي دېوالونه جوړ او د غصب مخنیوی به وشي.

**۴,۱۵ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د پوهنې د کرایې ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د سرچینو او اداري آمریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د خوندیتوب مدیریت له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی دی چې د ولایت په کچه د پوهنې د کرایي نیول شویو ودانیو په موخه تر دې دمه ۴۵ ودانۍ په کرایه نیول شوې دي؛ چې په دې سره به زده کوونکو ته د زده کړو لپاره مناسب ځای او آرامه فضا را منځ ته شي.

**۴,۱۶ فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرگندول.**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د سرچینو او اداري آمریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري تر سره شوی دی چې د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د تر میماتي پروژو په برخه کې د ولایت په کچه د مرکز په شمول په ۹ ولسوالیو کې د ۳۵ پروژو په اړه نظر څرگند شوی دی؛ چې په دې سره به د زده کوونکو له زده کړو سره علاقه زیاته شي او زده کوونکو ته به د زده کړو لپاره سهولت برابر شي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور

**۵،۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د درېیم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د کارکوونکو چارو آمریت اړوند د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره کېږي چې ۵۱ د درېیمو او څلورمو بستونو د ازموینو په هکله د پوهنې وزارت له معینیتونو سره همغږي تر سره شوې ده چې د پوهنې وزارت څخه د یو رسمي لیک پر بنسټ هدایت شوی چې له دې وروسته به درېیم او څلورم بستونه د آزادې سیالۍ پر ځای په حکمي ډول استخدامېږي؛ چې د همدې آمریت له لوري وړ کسان د پوهنې وزارت ته وړاندیز کېږي او منظوري یې د پوهنې وزارت له لوري تر لاسه کېږي چې په دې سره اداري ته باوري کدرونه جذبېږي چې د کار کیفیت لوړوي او د خدمتونو وړاندې کولو بهیر اغېزمن او چټک کوي.

**۵،۲ فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یادابنت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د موسساتو سره کوم هوکړه لیک ندی تر سره شوی ځکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کیږي.

**۵،۳ فعالیت: دمیدان وردک ولایت د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او کړنلارې ونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د تکنالوژۍ مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې د پوهنې ریاست له لورې ۱۸۹۰ سندونه او ۴۸۰ د بنسټونو سندونه او یو دانه د پوهنې ریاست د آمرینو د مدد معاش فرمان تر لاسه شوي ا و د پوهنې وزارت او اړوند معینیتونو ته د منظورۍ په موخه ۴۲۰ پیشنهادونه لېږل شوي دي.

**۵،۴ فعالیت: د میدان وردک ولایت څخه د تر لاسه شویو راپوروونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په میدان وردګو ولایت کې ندی تر سره شوی.

**۵،۵ فعالیت: د میدان وردک ولایت د پوهنې ریاست د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د تکنالوژۍ مدیریت د مسلکي غړیو له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره کېږي چې د ولایتونو د کارشناسي شویو سندونو شمیر ۷۱۰۰ ته رسیږي او ۳۶۷ سندونه د دفتر ریاست او معینیتونو ته لېږل شوي دي؛ چې په دې سره به په اړوندو ادارو کې شفافیت د اسنادو ساتنه او په وخت خدمات وړاندې شي.

**۵،۶ فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړو او تقویتي پروګرامونو تنظمیول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی.

**۵،۷ فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند د دفتر عمومي مدیریت له لوري د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ همغږۍ رامنځ ته شوې ده چې ۴ پرېکړې او ۳ ځانګړې لارښوونې اړونده مراجعو ته لېږل شوي دي؛ چې په دې سره به د اداري کارونو په تر سره کولو کې آسانتیا او د موضوعاتو په برخه کې ستونزې حل شي.

**۵٫۸ فعالیت: په میدان وردک ولایتي او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د پلان عمومي مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې د ولایت په کچه ۱ او د مر کز په شمول ۹ ولسوالیو ته عملیاتي پلانونه جوړ او لیږل شوي دي؛ چې په دې سره به د پلان مطابق کارونه ترسره شي، د مالي منابع د بې ځایه مصارفو څخه به مخنیوی وشي او همدارنګه بشري منابع خپل کارونه په ښه ډول سره ترسره کوي او په کارونو کې به ګډوډي نه رامنځ ته کیږي.

**۵٫۹ فعالیت: د میدان وردک ولایت په کچه د ښوونیرو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د پلان عمومي مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې د ولایت په کچه عملیاتي پلان جوړ او په خپل وخت د پوهنې وزارت ته ولیږل شو.

**۵٫۱۰ فعالیت: د میدان وردک ولایت کچه د پراختیایي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د پلان عمومي مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې دولایت په کچه ۵۸ کانسپټ نوټونه ترتیب او د پوهنې وزارت اړوند د پلان ریاست ته لیږل شوي دي؛ چې پدې سره به د ښوونځیو لپاره تعمیرونه جوړ شي.

**۵٫۱۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د میدان وردک ولایت د پوهنې ریاست سره شریکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د پلان عمومي مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی چې د پوهنې ریاست برنامو او د ولایت په کچه د مرکز په شمول له ۹ ولسوالیو څخه د نوموړې مسودې په اړه نظریات راټول او د پوهنې وزارت اړوند د پلان ریاست ته واستول شول. چې په دې سره به د ستراتیژیک پلان په موخه پوهنې وزارت ته معلومات وشي.

**۵٫۱۲ فعالیت: د میدان وردک ولایت پوهنې رئیس او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د دفتر عمومي مدیریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی دی چې د پوهنې رئیس او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو ۱۷ کاري پلانونو تحلیل او انسجام تر سره شوی دی؛ چې په دې سره د وخت د ضایع کېدو مخه نیول کېږي، د مالي منابع د بې ځایه مصرف څخه مخنیوی کېږي او همدارنګه بشري منابع خپل کارونه په ښه ډول سره سر ته رسوي او په کارونو کې د ګډوډۍ مخه نیول کېږي.

**۵٫۱۳ فعالیت: د میدان وردک ولایت واحدونو د عادي او پراختیایي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د پلټنې عمومي مدیریت له لوري په ولسوالیوکې تر سره کېږي چې د ولایت په کچه په ۹ اداري واحدونو کې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه ترسره شوې ده چې پدې سره به د بودیجې له بېځایه مصرف څخه مخنیوی وشي.

**۵٫۱۴ فعالیت: د عدلي او قضایي ارګانونو د قرار کشفي ځانګړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت ندی تر سره شوی او نه په پوهنې ریاست کې کومه ځانګړې قضیه شته.

**۵،۱۵ فعالیت: په میدان وردک ولایت کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروګرامونو پلي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د پوهنې ریاست ټولو کارکوونکو ته دهمدې ریاست په جومات کې د ماسپښین لمانځه له اداء وروسته ۳۶۶ تنو ته د مختصر نصاب تدریس کیږي چې د پوهنې ریاست له همدې ټولو کارکوونکو څخه آزموینه هم واخیستل شوه؛ چې په دې سره به د امیر المؤمنین حفظه الله د حکمونو او فرمانونو له بشپړ تطبیق څخه ډاډ حاصل شي.

**۵،۱۶ فعالیت: د میدان وردک ولایت کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسی پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د امر باالمعروف نهي عن المنکر له لوري د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست کارکوونکو او د پوهنې ریاست اړوند ټولو ولسوالیو کې تر سره شوی دی چې د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسی پربنسټ د اولوالامر اطاعت په اړه هر وخت توصیه کیږي چې د ولایت په کچه ۲۸۰تنو کارکوونکو ته توصیه شوې ده. په دې سره به د امیر المؤمنین حفظه الله د حکمونو او فرمانونو له بشپړ تطبیق څخه ډاډ حاصل شي.

**۵،۱۷ فعالیت: د معینیتونو، ریاستونو او کارکوونکو سره د غونډو ترسره کول او د میدان وردک ولایت او جانبي ادارو په کچه د امام مبلغ استازو معرفي کول.**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کیږي خو تر اوسه په میدان وردکو ولایت کې ندی تر سره شوی.

## دریمه برخه

### د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

- د پوهنې ریاست د حکم، عمومي زده کړو د ښوونې او روزنې آمریت د هدایت او لاربنوونې پر اساس د مرکز په شمول د ټولو ولسوالیو د لېسه دورې او منځنې ښوونځیو د کلنیو ازموینو د پارچو، شقو او نتایجو د بیا کتنې کمېټه د پوهنې ریاست رئیس صاحب په مشرۍ د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت، د ښوونکو د مسلکي پراختیا څانګې او د ساینس عمومي مدیریت علمي او مسلکي غړیو له لوري تشکیل شوه؛ چې د ټولو ولسوالیو د لېسه او منځنې ښوونځیو د زده کوونکو د کلنۍ آزموینې د پارچو، شقو او نتایجو بیا کتنه وشوه او ورکړل شوې نمرې له شقو او نتایجو سره تطبیق شوې په یو تعداد ښوونځیو کې د ښوونکو له لوري د زده کوونکو نمرې په ډېر دقیق ډول کتل شوې وې.

# ځلورمه برخه

## تحليل او پايلې

| لومړۍ برخه: کيفيت او تړاو | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | فعاليتونه | شاخصونه | کلنۍ موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعاليت حالت | | | | د بشپړ شويو فعاليتونو پايلې | نا پيل شويو، ځنډول شويو نه بشپړ شويو فعاليتونو لاملونه |
| | | | | | | بشپړ شوی | تر کار لاندې | ناپيل شوی | ځنډول شوی | | |
| ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| ۱.۱ | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتياوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونيزو موادو پراختيا؛ | د سواد زده کړو د ځارل شوو کورسونو شمېر | ۲۹ | ۲۵۹ | ٪۱۰۰+ | √ | | | | په دې سره د ښوونکو په علمي سويه کې ښوالی راځي | |
| ۱.۲ | د ميدان وردک ولايت په کچه د علمي غړو مربيانو ظرفيت لوړول؛ | د مرکزي تيم لخوا د روزل شوو ولايتي علمي غړو شمېر | ۱۳ | ۱۰۶ | ٪۱۰۰+ | √ | | | | په دې سره به علمي غړو ظرفيت لوړ شي | |
| | | د ولايتي تيمونو لخوا د ولسواليو په کچه د روزل شوو علمي غړو شمېر | ٦۴ | ۳۱۹ | ٪۱۰۰+ | √ | | | | | |
| ۱.۳ | د علمي افکارو، مسؤليت منلو او ښه چلند په برخه کې په ميدان وردک ولايت کې د ښوونکو، مديرانو او د ښوونځيو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفيت لوړولو د پروګرامونو ترتيبول؛ | د روزل شوو ښوونکو شمېر | ٦۳۰ | ٦۸۹ | +۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره د ښوونکو په علمي سويه کې ښوالی راځي | |
| | | د روزل شوو سر ښوونکو شمېر | ۳۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د بوديجې د کمښت له امله ياد شاخص نه دی اجراء شوی. |
| | | د روزل شوو مديرانو/آمرينو شمېر | ۳۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۷۷ | ۵۸ | ۷۵٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱.۴ | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کیدو په موخه لازم چمتوالی؛ | د جواز ورکولو سیستم د معرفی کولو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو شمېر | ۷۷ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | څکه تر اوسه د یاد فعالیت په اړه کومه کړنلاره نده راغلې. |
| ۱.۵ | د لابراتوارونو د اړتیاوو معلومولولپاره سروې او په میدان وردک ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوې څارنې شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | څکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر اوسه ندی ترسره شوی |
| ۱.٦ | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر اوسه ندی ترسره شوی |
| ۱.۷ | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۹ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د امکاناتو او بودیجې کمښت له امله نه دی تر سره شوی. |
| ۱.۸ | د پوښښ لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شوو نارینه ښوونکو شمېر | ۳۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | پدې هکله تر اوسه کومه کړنلاره نده راغلې. |
| | | د روزل شووښځینه ښوونکو شمېر | ۱۴ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۱.۹ | د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول؛ | د له زده کړو څخه د برخمن شویو زده کوونکو شمېر | ۴۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له امله نه دی تر سره شوی |
| | | له زده کړو څخه د برخمن شویو ښوونکو شمېر | ۲۵٦ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | له زده کړو څخه د برخمن شویو اداري غړو شمېر | ۹۸ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۱.۱۰ | د مسلکي غړو له خوا په میدان وردک ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش WASH Dewormin په برخه کې د څارندی د تروپ ګروپونو | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له امله نه دی تر سره شوی |
| | | د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | ۱۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | ۴ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛ | د روغتیا په برخه کې د ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | ۶۵ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې له روزنو د برخمن شویو زده کوونو او ښوونکو شمېر | ۶۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۱.۱ ۱ | د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د میدان وردک ولایت د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لوري ندی تر سره شوی. |
| ۱.۱ ۲ | دمیدان وردک ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، کړنلارې ونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | ۲ | ۲۴ | +۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د ښوونکو علمي ظرفیت لوړ شي. | |
| ۱.۱ ۳ | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | د تشخیص شویو او جلب شویو بشري سرچینو شمېر | ۹ | ۹ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د سواد کچه به لوړه شي | |
| | | د ترلاسه شوي بودیجې اندازه افغانی | ۱۴۰۰۰ | ۱۰۲۷۰ | ٪۷۳ | | √ | | | | |
| ۱.۱ ۴ | د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛ | د هغو ولایتونو تحلیل او ارزونه چې لږخصوصي ښوونځي لري | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کیږي چې تر اوسه پورې نه دی تر سره شوی. |

## ۲. اسلامي زده کړې

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲.۱ | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شویو مدرسو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | ځکه چې تر اوسه پورې یې د دارالعلوم معیار ندی پوره کړی. |
| ۲.۲ | د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | ۲۲۸ | ۲۴ | ۱۰٪ | | √ | | | | |
| | | د کتل شویو او بررسی شویو دارالعلومونو شمېر | ۵۷ | ۴ | ۷٪ | | √ | | | | |
| ۲.۳ | په میدان وردک ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛ | د ولایتي دایر شویو سیمینارونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لورې ندی تر سره شوی |
| ۲.۴ | دمیدان وردک ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | ۲۲۸ | ۲۹۸ | +۱۰۰٪ | √ | | | | اړتیاوو ته به یې د حل لاره پیدا شي. | |
| | | د کتل شویو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | ۵۷ | ۲۵۳ | +۱۰۰٪ | √ | | | | اړتیاوې به په نښه شي او په تدریسي بهیر کې به بهبود رامنځ ته شي. | |
| ۲.۵ | په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛ | د ثبت شویو علماء کرامو شمېر | ۵۱۴ | ۴۸۵ | ۹۴٪ | | √ | | | | |
| ۲.۶ | په میدان وردک ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شویو ښوونکو شمېر | ۴۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د نویو کتابونو نشتون له امله کوم استادان نه دي روزل شوي. |
| ۲.۷ | د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. | د ثبت شویو فارغانو شمېر | ۵۷ | ۵۴۵ | +۱۰۰٪ | √ | | | | دیني علما به زیات شي | |
| **۳. د کیفیت تضمین** | | | | | | | | | | | |
| ۳.۱ | د میدان وردک ولایت او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛ | د ولایتونو په کچه د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | ۱۸ | ۹ | ۵۰٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳.۲ | د میدان وردک ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛ | د ارقامو د تصدیق شویو راپوروںو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره په ښوونیزو مرکزونو کې د احصائیوي ارقامو کتنه او تصدیق د لا ښه شفافیت په موخه تر سره شوی. | |
| ۳.۳ | د ډیتاسیتونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت لخوا تر اوسه ندی تر سره شوی. |
| ۳.۴ | د ډیتاسیتونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لوري ندی تر سره شوی |
| ۳.۵ | د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | ۳۱۳ | ۱۱۲ | ۳۶٪ | | √ | | | | |
| ۳.۶ | د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛ | په ګروپي بڼه د وېشل شویو بري لیکونو شمېر | ۱۹۳۸ | ۲۴۹۳ | +۱۰۰٪ | √ | | | | پدې سره به د زده کوونکو له غوښتنې سره سم تعلیمي اسنادو ته لاسرسی پیدا شي ا و د دولت په عوایدو کې به زیات والی راشي. | |
| ۳.۷ | د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپینو وېشل شویو بري لیکونو شمېر | ۳۰۰۰ | ۳۲۹۱ | +۱۰۰٪ | √ | | | | پدې سره به د زده کوونکو له غوښتنې سره سم تعلیمي اسنادو ته لاسرسی پیدا شي ا و د دولت په عوایدو کې به زیات والی راشي. | |
| ۳.۸ | د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛ | د دولتي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | ۱۳۸ | ۲۰۲ | +۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د زده کوونکو د تعلیمي سوابقو پایلې تائید شي. | |
| | | د خصوصي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | ۱ | ۲ | +۱۰۰٪ | √ | | | | پدې سره به د زده کوونکو د تعلیمي بروسو پایلې تائید شي | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د سامع فارغانو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | ۱۲۵ | ۱۳۵ | +۱۰۰٪ | √ | | | | پدې سره به د زده کوونکو د تعلیمي بروسو پایلې تائید شي | |
| ۳.۹ | د ځارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛ | د ځارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخو کې د روزل شویو کارکوونکو شمېر | ۱۴ | ۳۱ | +۱۰۰٪ | √ | | | | د راپور لیکلو ، تحلیل او توحید په برخه کې چې کومې ستونزې موجود وې حل شوې. | |
| ۳.۱<br>۰ | د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره ځارنه؛ | د ولایتونو د ځارل شویو پوهنې ریاستونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | شته ستونزې او نیمګړتیاوې به حل شي. | |
| ۳.۱<br>۱ | دمیدان وردک ولایت د پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه ځارنه؛ | د ولایتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د ځارل شویو پروژو څخه د ترتیب شویو توحیدي راپورونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د شویو هوکړه لیکونو له تطبیق څخه ډاډ حاصلول | |
| ۳.۱<br>۲ | د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د ځارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛ | د ولایتونو شمېر چې راپورونه یې د استفادې وړ ګرځېدلي | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د ځارنې او اروزنې کارونه په منظم ډول مخته لاړ شي. | |
| ۳.۱<br>۳ | د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛ | د ولایتونو شمېر چې سیستم پکې فعال او تطبیق شوی دی | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت نه دی اجراء شوی. |
| ۳.۱<br>۴ | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د میدان وردک ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شویو راپورونو شمېر | ۴ | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د پوهنې وزارت ته د عملیاتي پلان دکړنو له تطبیق څخه ډاډ حاصل شي. | |
| ۳.۱<br>۵ | د میدان وردک ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛ | د ترسره شویو کړنو سلنه | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د قوانینو له تطبیق څخه ډاډ حاصلول | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳.۱ ۶ | د میدان وردک ولایت په کچه د تقنيني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛ | د تطبیق شویو روزنیزو پروګرامونو سلنه | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | √ | | | | کارکوونکو ته د تقنيني سندونو او پالیسیو په برخه کې پوهاوی ورکړل شو. | |
| **۴. سرچينې او اداره** | | | | | | | | | | | |
| ۴.۱ | د پوهنې وزارت د داخلي عوایدو په راټولولو کې زیات والی؛ | راټول شوي عواید | ۱ | ۹۶۱۳ ۶۸ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د دولت خزانې ته عواید جمع شي. | |
| ۴.۲ | د بودیجې د ترتیب او لګښتونو د تعقیب سیستم BPET پراختیا او نوي کول؛ | د رامنځته شوي سیستم د پرمختګ سلنه | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | √ | | | | په دې سره د پوهنې وزارت د مصارفاتو او معاشاتو د تخصیص په مصرف کې شفافیت راځي | |
| ۴.۳ | د مالیې وزارت په موافقه په میدان وردک ولایت کې د افمیس سیستم ته پراختیا ورکول؛ | د ولایت پر بنسټ د پرمختګ سلنه | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لورې یاد سیستم نه دی فعال شوی |
| ۴.۴ | د میدان وردک ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛ | د ولایتونو په کچه د روزل شویو کارکوونکو شمیر | ۵ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت ندی اجراء شوی |
| ۴.۵ | د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛ | د<br>پرمختګ سلنه | ٪۱۰۰ | ۰٪ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۴.٦ | د میدان وردک ولایت په کچه د اداري کارکوونکو زده کړه او ظرفیت لوړول؛ | د فورمو د لیږلو له لارې د ولایتي ارزول شویو کارکوونکو شمیر | ۱۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | . | (۱۰۷ ) د نیاز سنجي فورمونه د پوهنې وزارت ته لیږل شوي د ې چې تر اوسه پورې زمونږ په ولایت کې د فورمونو د لیږلو له لارې کارکوونکې ندي ارزول شوي |
| | | د ولایتي روزل شویو کارکوونکو شمیر | ۱۰۰ | ۴۴ | ۴۴٪ | | √ | | | | |
| ۴.۷ | د میدان وردک ولایتپه کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول؛ | د پرمختګ سلنه | ٪۱۰۰ | ۸۰٪ | ۸۰٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴.۸ | د میدان وردک ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | ۱۵ | ٦ | ۴۰ | | √ | | | | |
| ۴.۹ | د میدان وردک ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛ | د سجل شویو ودانیو شمېر | ۱۰ | | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د روزنیزو مرکزونو د احاطوي سجل شویو دیوالونو شمېر | ۵ | ۷ | +۱۰۰٪ | √ | | | | چې پدې سره به زده کوونو ته د زده کړو لپاره مناسب چاپېریال رامنځ ته شي. | |
| | | د ترمیم شویو سجل شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | ۴ | ۳٦ | +۱۰۰٪ | √ | | | | چې پدې سره به زده کوونو ته د زده کړو لپاره مناسب چاپېریال رامنځ ته شي. | |
| ۴.۱۰ | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛ | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | ۱۵ | ۷ | ۴۷٪ | | √ | | | | |
| | | د ثبت شویو سجلو شمېر | ۱۹ | ۳٦ | +۱۰۰٪ | √ | | | | د اسنادو خوندي ساتل | |
| ۴.۱۱ | د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي؛ | د جوړو شویو ودانیو شمېر | ۳۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | داسې ځمکه نشته چې تثبیت یې نوي شوی |
| **۵. پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، پلان، مخابره او نور** | | | | | | | | | | | |
| ۵.۱ | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | په یاده برخه کې لازمې کړنې تر سره شوې وې. | |
| ۵.۲ | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د وېشل شویو مجلو شمېر | ۸۰۰ | ۳٦۵ | ۴٦٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بیندیش د وېشل شویو مجلو شمېر | ۸۰۰ | ۳٦۵ | ۴٦٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | په ولایتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | ۱۶۰۰ | ۱۶۸۰ | +۱۰۰٪ | √ | | | | په دې سره به د پوهنې وزارت له کړنو څخه خلکو ته معلومات تر لاسه شي. | |
| | | په ولایتي کچه د وېشل شوې کلیزې شمېر | ۴۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | ۱۶۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | |
| ۵.۳ | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛ | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | ۴۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لورې نه دی اجراء شوی. |
| ۵.۴ | د میدان وردک ولایت د ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛ | د کتل شویو ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت له لورې نه دی اجراء شوی. |
| ۵.۵ | تر پوښښ لاندې میدان وردک ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو مرکز ته دارالعلومونو او دارالحفاظونو د۱۱۴۷۳ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | دارالعلومونو ته د وېشل شویو کتابونو شمېر | ۱۱۴۷۳ | ۱۱۴۷۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | چې په دې سره د یادو دارالعلومونو د زده کوونکو د کتابونو د نشتون ستونزه حل شوه. | |
| ۵.۶ | د میدان وردک ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۳۲۵۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | ۳,۲۵۰ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د مرکز څخه تر اوسه پورې د سواد زده کړې کتابونه نه دي رارسیدلي. |
| ۵.۷ | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۱۳۹۵ ټوکه درسي کتابونو ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | ۱۳۹۵ | ۱۳۰ | ۹٪ | | √ | | | | |
| ۵.۸ | په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پراوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت څخه هدایت ندی شوی |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٥.٩ | د پلټنې په برخه کې د میدان وردک ولایتي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | ٥ | ٠ | ٠٪ | | | √ | | | د پوهنې وزارت لخوا په لاره ندي اچول شوي. |
| ٥.١٠ | د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | د پلان شویو سفرونو شمېر | ٢ | ١ | ٥٠٪ | | | √ | | | |

**دویمه برخه: انډولیز لاسرسی**

**١. ښوونه او روزنه**

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١.١ | د میدان وردک ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | ١ | ١ | ١٠٠٪ | √ | | | | په دې سره به ښوونکي په مسلکي ډول وروزل شي. | |
| ١.٢ | د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د ښه کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | ٣ | ٧ | ١٠٠٪+ | √ | | | | پدې سره به د زده کوونکو علمي سویه لوړه شي. | |
| | | د تجهیز شوو کمپیوټرلب شمېر | ١ | ٠ | ٠٪ | | | √ | | | |
| ١.٣ | په دولتي ښوونځیو کې د میدان وردک ولایت په کچه د ١٦١٩٧ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | ١١١٥٠ | ٩٢٣٨ | ٨٣٪ | | √ | | | | |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | ٥٠٤٧ | ٤١٨٤ | ٨٣٪ | | √ | | | | |
| ١.٤ | دمیدان وردک ولایت په کچه د ۴ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښوونځیو شمېر | ۴ | ٠ | ٠٪ | | | √ | | | تر دې دمه د ولسوالیو څخه غوښتنه نده شوې |
| ١.٥ | په میدان وردک ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د لومړنیو ښوونځي د منځنۍ دورې ښوونځیو ته او د منځنیو ښوونځیو د لیسې ښوونځیو ته لوړول؛ | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | ١ | ٠ | ٠٪ | | | √ | | | د تشکیل کمبود او د پوهنې آمریتونو څخه یې غوښتنه نده شوې |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | ١ | ٠ | ٠٪ | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
